# هغه پلا او دا پلا

(یونلیک)

لیکوال:

**د اکاډمیسین کاندید م. انور نومیالی**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

باسمه تعالی

# هغه پلا او دا پلا

(یونلیک)

لیکوال: **محمدانور نومیالی**

زیار او سمون: **مطیع الله روهیال**

خپروونکی: **علامه رشاد خپرندویه ټولنه** – کندهار

کمپوز او ډیزاین: **روهیال کمپیوټر اداره** - کندهار

چاپ کال: ۱۳۹۳ش

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د مخونو شمېر: ۷۲ مخه

د خپرونو لړ: ۸۹

چاپځای: ملالۍ مطبعه

---

تلیفون: ۰۷۰۰۳۲٦۰۱۱

ایمیل: mrohyal@yahoo.com

---

**ټول چاپي حقوق په خپروونکي اړه لري!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپروونکي یاداښت

"هغه پلا او دا پلا" د ارواښاد استاد محمدانور نومیالي د یوه اوږده سفر لنډه سفرنامه ده. زموږ په افغاني پوهانو کې ډېر لږ داسي کسان موجود وه یا دي چي ډېر څه په لږو خبرو کې ووایي او یا ئې ولیکي. دغه ورتیا خدای پاک د استاد نومیالي په وجود او قلم دواړو کې ایښې وه. د دغه اوږده سفر اوږده بیانونه ئې په خپل توانا قلم داسي رالنډ کړي چي سړی ډېر څه ځني فهمولای سي.

تر دغه سفر مخکي استاد د هغه مهال د شوروي اتحاد خوا ته یو بل سفر کړی وو، چي د هغه سفر مفصل یونلیک ئې د "څه چي وینم هغه وایم" تر نامه لاندي لیکلی وو، خو متاسفانه دغه یونلیک اوس زموږ په لاس کي نسته، چي د هغه په لوستلو سره مو د استاد له هغو خوږو او اوږدو بیانو څخه خوند اخیستی وای.

حاضره سفرنامه د ارواښاد نومیالي صاحب د سفر بېلابېل بیانونه لري، چي استاد په خپل جادویي قلم لیکلي او موږ ته په میراث پرې ایښې دي. د استاد د سفرنامې لیکلو میتود هم د هغه د څېړنیزو موضوعاتو په څېر دئ، چي نوي خبري په نوي انداز بیانوي. د استاد دغه روش د هغه په ټولو لیکنو او آثارو کي معلوم او ښکاره دئ.

د دغي سفرنامې لومړی چاپ د (۸۶ – ۱۳۸۷) کلونو د ښکلا مجلې په اوو پرله پسې ګڼو کي وسو. خو حاضر یونلیک ما د استاد له هغي خطي نسخې څخه برابر کړی دئ، چي د دوی په خپل قلم لیکل سوې او دوه کاله مخکي د هغه زوم ښاغلي ډاکټر شېرحسن حسن له مسکوه د چاپ په نیامت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار ته رالېږلې وه، خو زما د زياتو مصروفيتونو له وجې ئې تر اوسه چاپ ځنډېدلی وو.

زه د ښاغلي ډاکټر حسن څخه مننه کوم، چې زموږ د دغه حقداره او لوی عالم د آثارو په چاپ او برابرولو کې ئې همېشه کوښښونه او هڅې کړې دي. خدای پاک دې عوضونه ورکې. د دې تر څنګ د ښکلا مجلې له مسئولينو څخه هم مننه کوم، چې څو کاله مخکې ئې موږ د استاد نوميالي له سفرنامې څخه خبر کړو، او د دغه يونليک خواږه ئې په موږ د خپلې مجلې له لارې وڅکل.

په آخر کې دا د ځان له پاره د فخر خبره بولم چې د استاد نوميالي د ډېرو نورو آثارو تر څنګ د دغې سفرنامې د کتابي بڼې چاپ مې په نصيب سو. نور نو تاسې د استاد د دې اوږده سفر د دغې لنډې خو خوږې سفرنامې لوستلو ته رابولم.

په درنښت

مطيع الله روهيال

د علامه رشاد خپر ندويه ټولنې مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادونه

د شلمي پېړۍ اته اتیایم کال وو چې د کابل د علومو په اکاډیمي کې د یو کارمند په توګه دا زمینه راته برابره سوه چې د شوروي اتحاد څو ښارونو ته په اوږده سفر ولاړ سم او هلته په لېننګراد، مسکو او تاجکستان کې ټوله لس میاشتې تېرې کړم. ما چې د شوروي اتحاد د اقتصادي عجایباتو او کلتوري کمالاتو خوږې افسانې ویلې وې نو ډېره علاقه مې درلوده چې په سرسره دغه نوې دنیا په خپلو سترګو له نژدې څخه هم ووینم.

د لیدلو او کتلو په وخت کې ئې ما لنډکې یادښتونه هم له ځانه سره اخیسته او په خیال کې مې راګرزېده چې ښایي په کوم فرصت کې به ئې د یوې سفرنامې په توګه هم سره واوډم.

کله چې مې دغه سفر پای ته ورساوه او هیواد ته راغلم نو سمدستي مې د سفرنامې په لیکلو هم ګوتې پورې کړې او په هغې کې مې ښه او بد مشاهدات له یوه مخه له خپلو زړو او نورو خاطراتو سره یو ځای نژدې په درو سوو مخونو کې د یوه جونګ په بڼه ولیکله. خو دې سفرنامې چې یوازې توصیفي رنګ نه درلودی بلکې زما د مشاهداتو یوه عکاسي وه نو زما د پخوانیو خیالاتو او خاطراتو سره مې یو ځای په نوي ادبي سبک بې له کرونولوجۍ څخه تر وړو عناوینو لاندې ترتیب کړه. د دې جونګ له پاره مې داسې نوم وټاکی: "څه چې وینم هغه وایم"، د دې جونګ درې کاپۍ ما په خپل قلم د کاربن پېپر په وسیله سرښته کړې. یوه کاپي ئې ما د کوټه سنګي په کور کې ایښې وه چې د هغه له یو مخیزه ړنګېدو سره هم له منځه تللې ده. خو دوې کاپیانې ئې زما د اکاډیمۍ په کوټه کې پرتې وې چې البته که د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فهمېده خلکو په لاس نه وي ورغلي نو خو د پښتو ژبې په ګناه به د اور په لمبو کي پوپنا سوي وي. دا قصه به نوره پر دغه ځای پای ته ورسوم، ځکه نه به په نړېدلي، نه په سوځېدلي او نه په مړه سوي پسي دا په کار ده چي څوک تر وخت وروسته د ارمان اوښکي توی کړي.

دوهم ځل چي بيا د ۱۹۹۱کال په نومبر کي د شوروي پر خوا راوتلم نو دا ځل مي وختي لا په زړه کي وه چي په يوه بله سفرنامه هم لګيا سم او د حالاتو د تغيراتو انعکاسات هم د کاغذه پر مخ وکاږم. شروع مي په وکړه خو پوره مي نه کړه. ځکه د آوارګۍ په ببړنيو منډو کي داسي باډاسکو واخيستم چي د پښې د ټينګولو مجال مي په ډاډه زړه چيري نه سوای موندلای.

د دې دوهمي سفرنامې يو شمېر چټل يادابښتونه چي ما د ۱۹۹۱ او ۱۹۹۲ په يو څو هفتو کي په پنسل کښلي وه، تر ديرلس کاله وروسته نن (۱۳/ ۴/ ۲۰۰۴) په هغو زړو پاڼو کي ما ته په مخه راغله چي زما پالونکي ډاکټر شېرحسن لا څلور کاله وړاندي له مسکو څخه ډنمارک ته زما په خرائطو کي رالېږلي وه.

دا پاڼي چي مي وکتلې د ژوند هغه ترخې ئې را په زړه کړې چي ما بېخي له ياده ايستلې وې. خو څرنګه چي زما د سر نوشت يوه برخه ئې انعکاسوله او بل يو څه تېري سوي خبري ئې هم را په يادولې نو مي په دې وارزولې چي له چټلي ليکني څخه ئې راوباسم او نورو ته ئې د لوستني له پاره د يوې قصې په توګه وليکم. ځکه چي د چټلي ليکني ځيني ځايونه ئې حتی ما په خپله هم نه سوای لوستلای.

څه سر مو پرله ګرزوم، دا ځل مي وختي لا د دې سفر دګذارشاتو له پاره داسي نوم وټاکی چي: "هغه پلا او دا پلا".

هغه بله پلا چي ستر شمالي ګاونډي ته راهي کېدم نو داسي تصور مي کاوه چي د خپل بحراني هيواد له اړودوړه څخه د يو څه وخت له پاره راوزم او داسي يوه هيواد ته راځم چي ټوله ژوند ئې د پلان سوي تمدن له اوډلي نظمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره پر سور برابر چلېږي او څوک نه پکښې دیغېږي.

خو دا پالا چي مي حرکت راکاوه نو شرایطو ډېر تغیر خوړلی وو او ما په دې راز تصور کي ورته راوهلې وه چي له یوه کوچني بحراني وطنه څخه بل لوی بحراني وطن ته په سفر رارهي یم. دا به نو وروسته راته څرګنده سي چي آیا له باران څخه ناوې ته راغلی یم او که له ناوې څخه باران ته.

هغه بله پلا په دې فکر وم چي ښایي د شوروي ټولني په علمي محافلو کي به زه د دې امکانات ولټوم چي د ژوند د مسایلو په باره کي یو څرګند بصیرت منځته راسي او ټوله په دې وپوهېږو چي څه کوو او کومي خوا ته روان یو. خو دا پلا په دې ښه پوهېږم چي ټوله وندرونه شلېدلي دي او ترلي یا ناترلي بودګان ګرده یو د بله سره په لغتو وهي او په تکه توره دربله کي په نامعلومه غوښتنو پسي له یوه مخه تېرېږي. دا نو یو بې هدفه حرکت وبولئ چي خپله نتیجه د تصادفاتو په لېونیو ټکرونو کي ټاکي. ځکه هر څوک د هغي نامعلومي نتیجې په انتظار کي شپې تېروي چي سبا به څه پېښ سي.

زموږ یوه شاعر ګوره چي په کوم خیال په پخوا کي لا داسي ویلي وه، چي:

زموږ کښتۍ ئې ډوبوله – خپل دریاب ئې طوفاني سو

همدا ګړی خو واقعیت دا دئ چي نن زموږ بېړۍ هلته مخ پر ډوبېدو ده او دلته بیا دریاب له خپلي لوی والي سره خورا ډېر طوفاني دئ. زه نو ګویا له ډوبېدونکي بېړۍ څخه طوفاني دریاب ته راغلی او یا راپر ځېدلی یم.

په لوی سر کي زما خیال داسي وو چي لېننګراد ته ولاړ سم او هلته د افغانستان د توکم پېژندني په باره کي د "بیلیو" هغه کتاب ترجمه کړم چي "د افغانستان د توکم پېژندني په اړه یوه پلټنه" نومېږي. خو په شوروي کي د تحولاتو یا تغیراتو له کبله زما د سفر ځای په تاشکند واوښتی. یا دا چي د مسکو میرزایانو زه پر تاشکند باندي تحمیل کړم. تر دې آنه لا په دې نه پوهېږم چي هغه د ترجمې چاره به دلته وکړای سم او که نه؟ په هر حال د بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثمره ژوند د وخت د تېرېدو هدف خو مي دلته هم تر سره کېدای سي. يو چا په کابل کي پوښتنه راځخه وکړه چي څونه وخت به په تاشکند کي پاته سې؟ ما په جواب کي هغه ته وويل چي زه خو پر خپلو مشکلاتو باندي حساب کوم. که مي هلته تر خپل کور تکليفونه لږ وه نو ښايي چي پوره لس مياشتي به ډېره ورته واچوم، او که بيا زيات وه نو لږم به د کوچ د ويلو سره بيرته خپله لکۍ پر شا راواړوي او راځي به د خپل پلار او نيکه تاريخي دوږخ ته.

***

د دې پلا د سفر پروګرام زموږ د اکاډيمۍ انډيوالانو ته د شوروي د روابطو هغه وروستۍ مرحله ښکاري چي د تېرو څو کلونو په موده کي ئې د هر پلو هوښيارانو په سياسي تجارت يا تجارتي سياست کي خورا واره داره دوه اړخيزه استفادې وکړې، چي خبره پر بله خوا راځخه اوړېده نه سي نو د ۱۹۹۱ کال د نومبر پر شپږمه زما ټوله کارونه يا کاغذونه دې ته جوړ سوه چي مخ پر ازبکستان راوخوځېږم. په اکاډيمي کي د مهربانه يارانو پاملرنه او پېرزوينه وه چي دا پلائې په رسمي موټر کي تر هوايي ډګره پوري راورسولم او د سفر په عملي جريان کي ئې واچولم.

هوايي ميدان ته د ورننوتلو په ټاکلې لار کي خورا لوی بولکان، بکسونه او مالونه يو په بل پسې کتارونه پراته وه، چي د تلاښۍ تر څارني تېر سي. ما هم خپله بار و بنه په دې کتار کي يو ځای کښېښووله. دلته واړه خيرن هلوکان او چټل زنکيان په ډلو ډلو هم دې خوا او هم ها خوا ته ښورېدله او د خلګو مالونه ئې د حملې په څېر له يوه ځايه څخه بل ته ورسره وړله. کله کله به لا داسي هم پېښېده چي تش به ئې يوه کوچنوټی بکس ته مازي لاس وروړی نو سمدستي به ئې د هغه له خاونده څخه پنځوس او يا سل افغانۍ وغوښتلې. د سرې وخت په دې کش واکش کي ډېر تېرېدی چي د نيم فقير

(c) ketabton.com: The Digital Library



– نیم جوالي له دې لېوني چپاوه څخه هم خپل ځان او هم خپل شیان وژغوري. دلته نو ښځې، کوچنیان، ځوانان ډېر تاوبالا کېدله. تا به ویل چې نو ټوله کابل اراده کړې ده چې نور نو د شمال په سفر رهي سي او یا له خپله ټاټوبي څخه د تېښتي کونه وکاږي.

سپاهیان په دې وخت کي د میدان قهرمانان ښکارېدله. سترګي ئې چپه و راسته په خلګو پسي اړولې را اړولې. ځکه یوازي د دوی خوله چلېدله چي ووایي: هلوکو پر دې خوا ولاړ سئ او یا پر هغه خوا ووزئ. یو ګړی یا بل ګړی ئې په خښمېدلي ږغ سره هم پر ځینو خلګو باندي زېږې نارې وهلې. خو ځیني معتبره سرکاري یا فېشني کسان بیا له خپلو موټرانو سره د سلامیو په لار کي بې له تلاښیو څخه په بې غمه زړه هوسا تېرېدله. دلته د سړي په خپل اجتماعي او سیاسي دریځ ښه پوره سد رسېږي چي زه په کومه طبقه پوري اړه لرم.

نیم ساعت وروسته د تلاښۍ د خوني دروازه خلاصه سوه. یوه چوپه خلګ چي په اوږو ئې ډکې سره وهلې په خپل خدای ورکړي زور د ننه ورننوته او نور بیا لکه خوټې دباندي په انتظار کي چخ پر چخ پاته سوله. ځیني چالاکه او تکړه کسان د تلاښۍ د مامورانو سره داسي په خلاصه خوله او په خوږه لهجه ږغېدله لکه د خپل کور سکه غړي چي ئې وي. خو ځیني نور بیا له دې طلایي چانسه څخه وچي شونډې محروم پاته وه. په دې مهال کي دا هم لیري نه وه چي یو هوایي راکټ دلته زموږ په منځ کي له یوې خوا څخه وننبلي او د ټولو سر نوشت په یوه شېبه کي پر بله خوا ورواړوي. ښه نو ما بې لاسه او بې پښو ته هم روڼ یا واری له ښه مرغه راورسېدی. زما کالي ئې په خورا حیواني لېونتوب سره دې او ها خوا ته راوشنله او راوپاشله. د کسټ یو دري پیټې چي ما د ګرباچوف د نونسم کنفرانس بیانیه ورباندي ثبت کړې وه، هغه ئې واخیستې او ضبط ئې کړې، په کړه خوله مي زارۍ ورته شروع کړې چي زما ټوله علمي سفر هم د دغي بیانې د ژبي او محتویاتو سره اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. خو حوالدار نه په دې خبرو پوهېدی او نه ئې زما پر چټې سورنا باندي غوږ نیوی. دا وینا هغه بل ګښت ما په دې نیت ثبت کړې وه چي یو خو ئې د روسي ژبي د زدکړي له پاره په کار واچوم او بل د ګرباچوف په هغه نظریاتي تجدد ځان سم وپوهوم چي غواړي د معقولیت په عنصر د تاریخ جریان اداره کړي، چي خبره پر بله خوا راڅخه ولاړه نه سي نو د پیټو د ضبط له پېښي سره دلته رامعلومه سوه چي پیټې هغه مهال سړی له ځانه سره وړلای سي چي د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د مامورانو له خوا کتل سوي وي او د سانسور ټاپه ئې خوړلې وي. زما ناکاره منطقو نو دلته کار نه کاوه، ځکه شنه خرتوبي د قانون په نامه پر هر شي غالبه وه. له ځانه سره په دې غمجن تصور کي ډوب وم چي بې له دغو پیټو به په خالي ټیپ ریکارډر د دې اوږده سفر غمېدلي شپې او ورځي بېکاره څنګه تېروم. ما خو نو داسي جوړه کړې وه چي یو ځل به د ګرباچوف د وینا انګرېزي متن ګورم بیا به هغه د روسي ژبي له متنه سره مقابله کوم او پیټه بیا له همدې روسي متنه سره اورم څو چي په یوه ټک درې مرغۍ پر یوه ځای ښکار کړم.

دې ټکي ته به اوس راسو چي موږ د دې لاري مسافر کله له لومړۍ تلاښۍ څخه راووتلو نو هلته نژدې یو کوچنی موټر ولاړ وو او هغه ته ئې له بار و بنې سره وروخېژولو. څه ګړی وروسته موټرګی له سواریانو څخه تر څوکي پوري چخ پر چخ وبوزېدی. ځینو کسانو داسي فکر کاوه چي ښایي دا موټرګی به د آریانا په شرکت پوري اړه لري او وړیا به مو تر ټرمیناله پوري رسوي، خو د یوې دقیقې لار چي ئې تر ټرمینال پوري ووهله نو سمدستي ئې د هر سړي او هري پلنډي پر سر باندي له سوارلیانو څخه سل افغانۍ واخیستلې. خلګ چي په هر فکر کي وه او یا ئې هر څه سره ویله خو زما له سره څخه د پیټو سودا نه وتله. یو چا چي زما غمجن مخ ته وکتله نو ئې راته وویل چي ده خپلې پیټې د کوټ په جېب کي اچولي وې او نو ځکه راتېري ئې کړې او چا ورڅخه وانه خیستې. ما ول چي رشتیا درته ووایم زه د خدای یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساده پټان یم او په دې چلو مي کورټ سد نه رسېږي. په صحبت کې مو سره یاده کړه چې پر پیتو باندي اوس څه بنا ده او کوم سِري پیغام به وي چې څوک ئې په دې وسیله دباندي وباسي. ځکه اوس خره، اوښان، غوایې او هر څه د افغانستان په خاوره وزي او ننوزي خو مخه ئې څوک نه سي بندولای. ده په پارسي وویل: زمونږ هیواد اوس د ملا نصرالدین قبر دئ چې درې خواوې ئې ایله دي او د یوې خوا دروازې ته ئې خورا غټ قلف ورلوېدلی دئ.

شاوخوا مي په ټرمینال کې یو پلو او بل پلو په دې پسې د تلاښ اوربوز ښوراوه چې ګوندي خپلې پیتې بیا هم لاس ته راوړم. یو ډنګری پښتون ځوان چې نري تېره برېتونه ئې وه دلته داسي ښکارېدی چې د څارندوی یو مؤظف صاحب منصب دئ. هغه مي ودراوه او ورته ومي ویله چې ستا دلته کوم امر چلېږي او که نه؟ هغه په ډېره سړه سینه راغبرګه کړه چې وایه کاکاجانه! څه وایې؟ ما قصه ورته وکړه چې زما د علمي کار درې پیتې ئې په تلاښي کې راځخه وګرزولې او زه له دې بابته ډېر پرېشانه یم. ده وویل، په بې غمه زړه خپل کارونه خلاص کړه او بیا به زه یو څوک درسره کړم چې هغه پیتې بیرته دروسپاري. لږ څه د بیدارۍ ساه راپکښې وچونېدله او ژر ژر مي د کالو بکس د طیارې پر لوري ورچالان کړ. وروسته نو په هغه ځوان پوري ونښتم او دی چې به هري خوا ته تلی او راتلی زه به سم په پسې وم. د دې له پاره چې ما ته ئې راپام سي نو په عاجزانه مخ مي دلته هلته ارومرو خپل ځان په لیدی. څه ګړی وروسته ئې یو بل زلمي ته وظیفه ورکړه چې له ما سره د تلاښۍ تر لومړۍ کوټې پوري ولاړ سي او هلته پیتې ځني راواخلي.

پر لاري مي همدې زلمي ته د خپلو پیتو قصه کوله او ده چې هغه واورېدله نو ئې په ډېر تعجب له ما څخه وپوښتله چې آیا ګرباچوف هم په دې ارزي چې ویناوې ئې څوک تر څېړني لاندي ونیسي. ده ته مي په یوه لنډکي جواب کې ورغبرګه کړه چې د اویا کلن کلاسیک سوسیالیزم له ټولو بنیادي اصولو څخه د رجعت جریان د ګرباچوف په اقوالو او اعمالو کې ډېر ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



انعکاس لري، ځکه نو په کار ده چي د دې نوو پېښو ماهیت د همداسي کسانو په اثارو کي وکتل سي. زما سره مرستندوی زلمی مي دې خبري ته راوستی چي د یو چا په آثارو کي پلټنه یوازي دا معنا نه لري چي هغه به زموږ خوښ وي بلکي د حقایقو د روښانه کېدو له پاره هر څوک باید په خپله اصلي څېره کي وپېژندل سي. دا مرکه مو پر خلاصېدو وه چي د مطلب ځای ته سره راورسېدو او په دوو خبرو ئې تروښوولي پیتې له هغو کسانو څخه راواخیستې. چي زما پر زاریو او جګیو ئې کورټ غوږ نه نیوی. په دې بري باندي ډېر وغوړېدم او ترخه خوابدي مي په خوږه خوشحالي بدله سوه. تر دې وروسته په یوه بله تلاښي کي بیا د یو وحشي سپاهي تر حملې لاندي راغلم. په داسي حیواني منګولو ئې زما نازک او کوچنوټی جاپانی راډیو ټیپ ته لاس ورواچاوه چي ما ول اوس به ئې ټولي ټوټې او پرزې پر میدان باندي راته کوټه کړي. ده هم پر پیتو قبضه وکړه او یوه بل زلمي ته ئې په لاس ورکړې چي هغه پښتون وو. دې پښتانه ځوان ته چي ما تش د ګرباچوف نوم واخیستی نو شدید ښکنځل ئې هغه ته ورحواله کړه او زما په دې استدلال دی نه پوهېدی چي لکه څنګه چي د ښو خلګو د چارو څېړنه په کار ده همدغه شان د بدو کسانو یا ناکامه اشخاصو پلټنه هم ضروري راته ایسي. له ده سره مي یو ځای د ګرباچوف پر ضد په ښکنځلو او بد ویلو کي برابره برخه واخیسته خو دا خبره مي ورسره زیاتوله چي یوازي په دې پوچ ویلو د چا غاړه نه وزي، بلکي باید د تاریخ روان بهیر سمدم وکتل سي او ځان په وپوهول سي. په آخر کي ئې د قوماندې په لهجه راته وویل: واخله کندهاریه خپلي پیتې دي!

تر کوچنیو او لویو خبرو چي راتېر سو نو هغه وو چي بالآخره الوتکي ته وختلو او په هر خالي ځای کي چي د چا زړه غوښتی نو هلته کښېنستی. طیاره لویه وه او په بره یا په پسور ئې یوې او بلې خوا ته څنګ پر څنګ درې د ناستي ځایونه درلوده او شپږ نفره ئې ځایوله. په الوتکه کي د ننه د خلګو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اندېښنه وه چې ځیني مالونه ئې پر ډاګ پاته سوه او طیارې ته نه سوه راپورته. چالاکه کسانو په ویړه خوله ځرګندوله چې موږ خو تر آخره خپل مالونه راورسوله او الوتکې ته مو هم وخېژوله. ما له ځانه سره ویله، که زما د کالو بکس چیری پاته سوی وي نو بیا معلومه نه ده چې څو ورځې به پرله پسې په هغه پسي میدان ته ځغلم راځغلم. ځکه له دې نظم یا بې نظمۍ څخه وختي په څه نه پوهېدم. خو سودايي خلګو ته مي ډاډ ورکاوه چې هر څه پر خدای وسپارئ ځکه یوازې همدغه امکان دئ چې یو څه د زړه سوده په کېدای سي.

دغه راز ګرده بیروبار ته چې سړی ګوري نو نتیجه ئې په دې جمله کې راټولېدای سي چې ځیني کسان سفر کوي د پلنډې له پاره او ځیني بیا پلنډې کوي د سفر له پاره. دا هغه د ژوند فلسفه را په یادوي چې وايي: "خر د شپشتو د راوړولو له پاره او شپیشتي د خره د خوړلو له پاره دي".

د الوتکې په ټکټ کې ئې الوتنه د ورځې پر درې بجې کښلې وه، خو اوس پنځه ویشت کم څلور بجې وې چې طیاره والوتله او زموږ خیر نې پښې له دې پاکي خاوري څخه پورته سوې. زموږ په ناباوره وطن یا مدفن کې د هري درجې یا رتبې سړی د شرقي استبداد له برکته هیڅ کله تر هغو پر خپل سفر پوره باور نه سي کولای څو چې طیاره ئې له میدانه څخه نه وي الوتلې.

له تاسي څخه دي پټه نه وي چې څه مو غرمه نه وه خوړلي او تشه ګېډه په هوا سوو. ښايي دا به د طیارې پر وزن باندي مثبت تاثیر هم لري. خو یوه شېبه وروسته د الوتکې چوپړیانو په نیم ګیلاس مزه داره کولا او یوه وړه ټوټه خوندور کیک هم ونازولو. زما مخ ته د طیارې د خوراک پتنوس پورته نه بندېدی او ټوله لار زه مجبور وم چې د لاس په تکیه ئې لوړ ونیسم. د الوتکې چوپړي ته مي خپل مشکل ووایه خو هغه په دې خبره زما د قناعت او د ځان د نجات له پاره داسي آسانه جواب راته ووایه چې دا خراب سوی دئ. زما یارانو دا نو بیا هغه راز تکلیف وبولئ چې وختي ئې کورټ هیڅ تصور څوک نه سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای.

تر یو ساعت او پنځه ویشت دقیقو وروسته د تاشکند میدان ته راورسېدلو او تر پولیسي څارني چي راتېر سوو نو د تلاشۍ په سالون کي پنډ سره ودرېدو. دلته معلومه سوه چي نور شناخته خېل هم په دې طیاره کي راغلي وه. اوس نو دې ته انتظار ایستل کېدی چي بکسونه، پلنډي او باروبنې پر روانه پټه باندي تر دې ځایه راسي. یو نیم ساعت وروسته چي پټه پر حرکت راغله نو خلګ داسي ورباندي راچور سوه چي د دوو ګوتو لار ئې تر منځ نه کېدله. له یوې خوا چي دا ډکې وي او له بلي خوا ما په سترګو ښه نه لیدله نو اریان وم چي زما بکس به څرنګه په لاس راسي. ستارجان ته مي وویله چي زما تور بکس کیلۍ نه لري او ملا ئې ما په یوه سپینه تسمه ورتړلې ده. که دي چیري په سترګه سو نو درسره راوائې خله او تر ما ئې راورسوه. څو دقیقې وروسته د ده مرسته وه چي بکس ئې وموندی او تر ما پوري ئې راورساوه. دا هم یو غټ تصادفي بری وو چي بکس مي له الوتني څخه نه وو پاته سوی او له ما سره یو ځای په الوتکه کي راغلی وو. اوس نو ټولو مسافرانو دې ته زورونه وهل چي تر نورو ځان دمخه کړي او له ټرمیناله څخه ژر ووزي. د خلګو لوی کړکچو، د کوچنیانو سوي ژړاوي او د غټو تجارتي پلنډو کوټې په دې کوچنوټي سالون کي یوه داسي غمېدونکې فضاه جوړه کړې وه چي د "سفر" خوښي ئې په "سقر" باندي اړوله. د تلاشۍ مامورانو چي تر ډېر ځنډ وروسته ناوخته تلاښي پیل کړه نو هر ځل چي به تلواري خلګ کوټه ورباندي راچور سوه نو دوی به په یوه سلا د څارني کار پرې ښووی او بې له توپیره به ئې هم د مخ او هم د شا کسانو ته په چغنده آواز ویله چي له دې ځایه لیري ولاړ سئ.

موږ به ټوله شا ته ولاړو خو د کار له بیا شروع کېدو سره به بیا هم هغه چالاکه کسان چي د اجتماعي ډاروینزم په حساب یوازي دوی باید ژوندي پاته سي، تر ګردو دمخه به په نوبت کي تیک ودرېده او خپل کار به ئې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بري سره مخ ته واهه. زه چې ځوک کرته مخ او شا ته ولاړم، راغلم نو مې دا ومنله چې باید د خپل همېشني سرنوشت له حکمه سره سم ځان ډانډوغ وبولم. ولاړم په یوه آرامه چوکۍ کې هلته ګوښه یو ځای کښېنستم او د دې لوی انډوخر د منظرې مفت سیل مې کاوه. شاوخوا خلګ تېرېدله او راتېرېدله. ځینو ئې پر بې عدالتیو باندې خپلې تبصرې کولې او له ځانه سره به بوڼېدله. زما د سن یو پوخ سړی چې د قهرېدلي غالبوزي په څېر ئې هرې خوا ته بد بد کتله، خپل یوه شناخته ته ئې وویله چې په کابل کې ئې له ما څخه درویشت زره افغانۍ د زیاتي وزن په حساب پر مال کرایه واخیستله خو د ځینو کسانو خورا ډېر مالونه ئې بې له پیسو دغسې وړیا راتېر کړه. د غاښو د چیچلو په حال کې ئې دا خبره تر خوله راووتله چې څه وکړو د عیال غم اخیستي یو او بلې خوا ته مو مخ نه ګرزي. خو په دې بې عدالتې او بې قانونې کې هم سړی د زړه وینې خوري. سړي ته څرنګه قهر ور نه سي چې له یوه څخه هیڅ نه اخلي او له بله څخه په ژوند د بدن پوست کاږي. زموږ وطن چې تل د دغه راز شکایتونو یو تاریخي ټاټوبی دئ نو اوس له داسې بې اثره انتقادونو سره د خلکو غوږونه آموخته سوي دي او چندانې سر نه په ګرزوي. وایي ئې، اوري ئې او له زړه څخه ئې باسي. د شپې نه نیمې بجې سوې له ما سره چې هیڅ تجارتي متاع نه وه نو تر ټولو وروستی د دې وار راورسېدی چې په یو څو دقیقو کې د انتظار له دې عصري بندیخانې څخه راووزم. په دباندې کې هرې خوا ته رنګارنګ څراغان ځل و بل لګېدله. هغه توره دربه یا توره دربله مې له یاده ووتله چې د کابل پر ښار باندې ئې خپسکه پر ته وه.

له پخوانې دود سره سم د مېلمه پال په نامه هیڅوک زما مخې ته نه وه راوتلي چې لار و لیکه راوښیي او د اوسېدنې تر ټاټوبي مې ورسوي. یو ټکسي مې راوګرزاوه خو د "لابزک" په نامه هغه هوټل ئې نه وو لیدلی چې په کابل کې یوه چا زما د استوګنې له پاره راښوولی وو. بل مې راوګرزاوه هغه بیا پنځوس روبله راڅخه غوښتله. زما ټوله جایداد هم دغه پنځوس روبله وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه راته ویل سوي وه چي تر دې زیاتي پیسې اجازه نسته چي شوروي ته ئې ځوک له ځانه سره یوسي. بل یوه دېرش روبله راځخه وغوښتله خو زه د لسو روبلو په دریځ کي کلک ورته ولاړ وم. څلور پنځه ټکسیان بیا هیڅ دغه لوري ته نه تلله او د "نیت Het" په کلمه ئې ځان ته نجات او ما ته جواب راکاوه. له ما سره د دې خبري ډار هم وو چي د بکس په خاطر ځوک د بدای خیال راباندي و نه کړي او د توري شپې په پرده کي مي دارالبقاء ته وا نه ستوي. یو ځوان رانژدې سو چي ما ئې موټر هلته نه لیدی خو د پنځه ویشتو روبلو نرخ ئې راته وواېه. ځیني کسان چي د "لابزک" په نامه به نه پوهېدله نو ما ته به داسي وسوسه په زړه کي راولوېدله چي ښایي دا به زه غلط وایم او هغه به "لاپزیک" یا "لاپزوک" او یا داسي یو بل شی وي. د دې لغت ټوله طرز آوازونه مي د محاورې په استعمال کي په کار اچوله چي مشکل مي په حل سي، خو ګټه ئې نه کوله. په داسي حال کي چي اوس نو د پنځوسو روبلو ورکولو ته هم حاضر وم، زما د سن یو سپین ږیري موټروان لس روبله نرخ راته وواېه او زه بې له ځنډه په یوه ټوپ د ده ټکسي ته په تلوار ور پورته سوم. په لار کي ئې درې کسان نور هم موټر ته راوخېژوله او ما ته هر ګړی په زړه کي اندېښنه راګرزېدله چي ښایي په یوه تلکه به بند سوی یم. په هر حال سرنوشت ته مي ځان وسپاره او ځان ته مي ډاډ ورکاوه چي ما ته خپل ژوند څه په لاس راکړي دي چي اوس نو بیا له مرګه څخه لا هم بېرېږم. ټکسي موټر ښه ډېره لاره ووهله او د تورو سړکانو په یو ځای کي موټروان یوې خوا ته ګوته ونیوله او راته وئې ویله چي "لابزک" هم هغه دئ. له موټره ئې تا سوم او ده ته مي د پیسو له ورکړي سره کورودانی هم وواېه.

کله چي له خپلي بارو بنې سره هغې ودانۍ ته ورننوتم نو هلته مي تر هر څه دمخه په پوره زړه وویله چي زه د علومو د اکاډیمۍ مېلمه یم. نوکریوالي بوډۍ راته وویل، دلته ځای نسته. ما په جواب کي ورغبرګه کړه چي: "لابزاک" به هرومرو ځای راکوي. دې چي زما خبره واورېده نو ئې راته وویله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا "لابزاک" نه دئ بلکي د "وستوک" په نامه يادېږي.

هک حیران وراخطا ودرېدم چې زه ئې اوس د دې لوی ښار په کوم ګوټ کي د توري شپې غېږي ته ورغورځولی یم. د خپلي بد چانسۍ هغه پخوانۍ خاطرې مي یو په بل پسې قطار په زړه کي راتېرېدې چي زما ژوند ئې هر وخت له سختیو سره مخامخ کړی دئ. یوه بله پېښه بوډۍ چي په هم دې سالون کي ګوښه ناسته وه نو په لوړ ږغ ئې راناري کړه چي "لابزاک" دلته نژدې دئ. پر راسته لاس به ووزې، بیا به په زینو کي تېر سې، تر هغه پسې به پر چپه لاس راوګرزې او مخامخ به دغه هوټل ته ورسې. ما ول زه له یوې خوا ستړی ستومانه یم له بلي خوا په سترګو شی نه وینم او له بلي خوا دلته تکه توره دربله ده، نه زه راسته پېژنم او نه دي په چپه پوهېږم. یو څوک راسره ملګری کړئ چي تر دغه ځایه مي ورسوي. له بوډیانو څخه یوې په چغنده ږغ راته وویله: داسي بېکاره څوک دلته نسته چي له تا سره ولاړ سي او لار و لیکه دروښیي. په آخر کي دلته یو ناست ځوان چي زما په مشکل وپوهېدی سمدستي راوپاڅېدی او بکس ئې هم راسره واخیستی، څلور دقیقې وروسته ئې د کږو وږو لارو څخه د لاپزک د هوټل سالون ته راوستلم. ځوان د داغستان اوسېدونکی وو او ډېره مننه مي ځني وکړه.

اوس نو بیا دلته د هوټل ځواني نوکریوالي نجلۍ راته وخرنډل چي دلته ځای نسته. دې ته مي نو په ټینګه وویل چي زه له دې ځایه څخه په وهلو، ډبولو او ټکولو هم نه ځم. ګوره په هغه کوچ کي شپه تېروم چي د دغه سالون په پای کي بېکاره پروت دئ. د هغې پلمې او بهانې چي ګټه و نه کړه نو ئې بیا راته وویله چي باید د شپې د تېر له پاره اوز روبلونه واچوې. ما ورغبرګه کړه چي زه د ازبکستان د اکاډیمۍ په بلنه راغلی یم او ستاسي د پیسو ټوله حساب و کتاب په هغوا ړه لري.

موږ ته خو د عنعنې اخلاقي درسونه داسي ښوونه کوي چي د انسان له پاره سمه لهجه او نرمه وراشه په ژوند کي د بري یوه منلې نسخه ده. خو عملاً

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د ژوند تجربه دا نتيجه راکوي چي لجاجت، سرټمبګي او پر خپله خبره ټينګ دريدل يا له خپله خره څخه نه تا کيدل هغه طريقه ده چي چنداني ناکامي نه لري او د بري زيات شواهد ئې هر کله موندل کيږي.

زما جدي ټينګار او د وچ ضرورت اصرار "بيدار خوابه" نجلۍ دې ته واداره کړه چي ضرور مي پر سورنا غوږ ونيسي. زه خو له وختي څخه په دې پوهيدمه چي ښايي دلته به زموږ د اکاډيمۍ يو شمير کسان راغلي وي. اما څرنګه چي دوی زما په څير د ځان د تبارز ښه استعداد نه درلودی نو نجلۍ چنداني نه پيژندله او نه ئې د دوی نومونه تلفظ کولای سوای. يوازي "موسی رحيمي" دې ته معلوم وو چي ما ته ئې راښووی. نوکريواله نجلۍ راسره راولاړه سوه او زه د خپلو ټولو پلنډو سره تر شا په دې پسي رهي سوم. په ليفټ کي ئې نيخه چي کوم منزل ته وخيژولم خو بيرته ئې بيا د زينو يا ځينو له لاري څخه يو څو منزله راتا کړم. په دغه وخت کي د تره کو د پاچهۍ "کته سئ سپاره سئ" پښتني وراشه هر ګړی را په يادېدله. په دوهم منزل کي ئې د څو کوټو دروازې په خورا شدت په سوک وروټکولې. تر اوسه لا چا دروازه نه وه خلاصه کړې چي په دهليز کي هاند صاحب له يوې کوټې سر راوايست او د ده د ليدو سره مي خپل مسايل حل وبلله. کرار کرار نور انډيوالان هم يو په بل پسې راپيدا سوه. روغبړونه مو سره وکړه او مجلسونه مو ښه تاوده سوه. دوی خو تر ما دمخه وختي راغلي وه نو ما په هيواد کي ورځني حالات ورته بيان کړه. ټولو زما له پاره د ډوډۍ د تيارېدو سربښته پر غاړه واخيسته. ايشېدلي هګۍ او ترخې چای له ډوډۍ سره په دوړدنګ راته برابري سوې. اوس دلته بوره د نه پيدا کېدو په وجه د چايو له کلتوره څخه حذف سوې ده. په دې منځ کي يوه انډيوال د خرما په نامه يوه ميوه هم راته کښيښوولي. دا خرما نه ده هسي د خرما رنګ په بدېږي، بلکي د يوه بې خونده خرمالو سره په بې خوندي کي پوره شباهت لري، چي هغه کله ناکله زموږ بازارو ته هم راشيوه کيږي. دا ميوه چي د منې په اندازه ده د بيهي سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایي په بې خوندي کې یو څه سیالي وکړي. خان محمدایوب خان به زیاتره پر بیټې باندې ټوکې کولې او بې کیفیته سوډل کسان به ئې هم له بیټې سره مشابه کوله. کټ کټ به ئې وخندله چې بیټې هم اوس په مېوو کې شمېرل کېږي.

رحیمي صاحب د دې خوړو د تیارېدو په روان فعالیت کې ځان ډېر ستړی کاوه. دغه ځوان چې زموږ په اکاډیمي کې خپل ځان چنداني نه وو څرګند کړی خو دلته ښکارېده چې د اخلاقي اهلیت او لیاقت ډېر ښه خصوصیات ئې له ځوانۍ سره یو ځای سوي دي. ځکه نو دی ټولو اوزبکانو هم پېژندی او هغه متل ئې سړي ته ور په یاداوه چې "کلی په نامه لري یو خوی تر نورو ښه لري".

کوچنۍ خبري نو بې حسابه ډېري دي خو زه ئې بالاخره په هغه نومره کې له معتمد صاحب سره مېشته کړم چې دوې کوټې ئې یوه د ناستې او بله د خوب له پاره درلودې. د خوب کوټه جنتي معتمد په خپله خوښه یوازې ما ته راپرېښووله. دوه بستره له خپلو ټولو لوازمو سره هلته تیار ښکارېدله. پر هر چپرکټ باندي چې د ناوې د ځای په څېر ایسېدله د خورا ښکلي او ځلېدونکي ټوکره خوشحالوونکې روجائې ګاني هواري وې. دوه مېزونه، د کالو له پاره یوه غټه الماري او لویه قدنمایه هینداره په دې خونه کې ځای پر ځای لیده کېدله. د ناستې په کوټه کې ئې خورا غټ تلوېزیون او یو بې سده لوی یخچال د مېزونو او چوکیو سره توجه جلبوله. هر څه سامبال وه، خو د تلیفون له نعمته څخه ئې برخه نه درلوده. کلکینان ئې نه تړل کېده او جالۍ ئې هم نه درلودې. د تلیفون غارونه وه خو تارونه ئې څنې ټول کړي وه.

سره له دې چې د لمبېدو د تشناب له پاره ئې ښه پراخ ځای درلودی اما یو ناکاره نالایقه سرکاري مهندس هغه داسي تنګړی جوړ کړی دئ چې د هوټل د نورو وسایلو له پراخۍ او لویۍ سره کورټ شباهت نه لري. د پخوا د شوروي او د اوس د خپلواکو حکومتونو د اتحاد په ټولو چارو کې د اجزاوو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تناسب یا توازن تر منځ دغه شان بې ډوله نیمګړتیاوي هر چیري په مخه راځي. یوازي عیب په همدې تمدن کي دا دئ چي د هر کل په اجزاوو کي ئې لازم تعادل درک نه لري او نو ځکه د نیمګړتیا په وجود کي ئې ښېګڼې له سترګو څخه ځان پټوي او چا ته نه معلومېږي.

چي قصه بلي خوا ته راځخه ولاړه نه سي نو هغه وو چي په دا سبا سهار له معتمد صاحب سره یو ځای د چایو د چښلو په تلاښ د هوټل کانټین یا بوفیت ته له دوهمه منزله راتا سوو. د بوفیت دروازه په لوی قلف کلکه تړلې وه او د هوټل غاوچي موږ ته د یوې پوښتني په جواب کي وویله چي په څه نه یم خبر. باره دباندي راووتلو او په نژدې شاوخوا کي یو ځای ته ورغلو چي ترخې چای ئې له تروې یا سرکې وچي ډوډۍ سره په یو څو پیکه ورکولې. سماوارچي هم چرسي، هم شرابي، هم پنج عیب شرعي او له روان تقریره څخه خوشخویه موالي ښکارېدی. په ډېر بوږي آواز ئې د اوزبکي ژبي زیږه ږغونه تر ببري خولې درانه درانه را ایستله. لېونی، لېونی ښورېدی او دې حرکاتو ئې د سړي توجه ځان ته ډېره جلبوله. ښه زارخوره ځوان معلومېدی. په زیږه خندا ئې په ماته ماته روسي ژبه راته وویل چي تاسي به هم له ترخو چایو سره زموږ په څېر بالآخره پوره آموخت ونیسی. ډېر تشویش مه کوئ، پرېشاني خو د سړي زړه خوري. زما معتمد ملګري ته ئې وویل چي له کومه هیواده راغلی یې. هغه د ورځني جریاناتو د مصلحت له مخي داسي درواغ ورته وویله چي زه هندی یم. وروسته معتمد ما ته څرګنده کړه چي اوس دلته د پښتنو یا افغانانو له نامه سره سخت حساسیت راپیدا سوی دئ او نو ځکه هر چا ته خپل ځان هندی معرفي کوم. له دې یادوني سره ئې ما ته هم دا اندېښنه راپیدا سوه چي زه به څرنګه خپل درواغ او رشتیا د ځان د نجات له پاره سره یو ځای کړم. په پای کي تر ډېر چورت وروسته دې نتیجې ته ورسېدم چي یو خورا ناشناخته یا ناپېژندلی نوم به وراخلم او د دې راز پوښتنو مخه به ئې د هغه په جواب له ځانه څخه ګرزوم. پنځوس کاله پخوا تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شا د خپلي هغي کوڅې نوم را په زړه سو چي خلګو د مسلیانو کوڅه بلله، ولي د سرکار په دفترو کي د میرزایانو له خوا د خوګیانو په نامه یادېدله. اوس نو هر څوک چي له ما څخه د ځان پوښتنه کوي په پوره زړه هغه ته په جواب کي وایم چي د خوګیانو یم. په دې توګه زما دروغ او رشتیا دواړه یو ځای د اضدادو د وحدت ډیالیکټیکي نمونه ګڼله کېږي.

که څه هم زما له راتګه څخه د دې ځای اکاډیمي په وختي کي لا خبره وه خو د هغې عمومي بې نظمۍ یا بدنظمۍ له برکته چي اوس پر دې مځکو را روانه ده، هیچا د پخوا په شان په ما سر و نه ګرزاوه او هر مؤظف مامور په یوه یا بله پلمه ځان له خپله مسئولیته څخه خلاصولای سي. دلته به پخوا د نومبر پر اوومه نېټه د اکتوبر د ستر انقلاب شانداره جشنونه روان وه خو اوس ئې د رخصتۍ له عطالته څخه هر څوک ګټه اخلي اما د خوښیو له حرکته څخه ئې ځان کاږي. زما له شامته څخه سرپرسر څلور ورځي پرله پسې بېکاري یا رخصتي سوه او که "رحیمي" غوندي پوه زلمی زما په ناپوهي نه وای پوهېدلی نو زه به د خپلي بې کفایتۍ له کبله د هوټل په عصري ودانۍ کي له لوږي څخه کچول سوی وای. د رحیمي له سره څخه په دې سد رسېدلی وو چي ما د خپل تاریخي چادي توب له کبله د دغه علمي سفر له وړیا تجارتي چانسه څخه زموږ د نورو علمي تاجرانو یا تجارتي عالمانو په څېر هیڅ راز حیاتي استفاده نه ده کړې. ځکه نو دی په خپله راغی او زما پر حال ئې د پېرزویني له مخي پوښتنه وکړه. ما هم د وچي اړتیا له کبله دا جرئت وموندی چي د خوړو او چښنو له پاره دوه سوه روبله پور ځني واخلم.

په پنځمه ورځ د اکاډیمۍ مېلمه پاله لیوډمیلا راغله چي زموږ په حال ځان خبر کړي. د خپلو خبرو په سر کي ئې وویله چي په مسکو کي د شوروي اکاډیمۍ څو ورځي کېږي چي تړلې ده او هلته تلیفون څوک نه پورته کوي چي موږ د خپلو چارو هدایت ځني واخلو. زه ئې دې خبري ته ډېر اریان سوم. ځکه په ژورنالیستي خبرونو کي اوس پوره دوې میاشتي کېږي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازبکستان خپلواکۍ ته رسېدلی دئ خو عملاً لا دا ګړی هم د یوې کوچنۍ اداري د چارو لاربښوونه د مسکو د اکاډیمۍ له مرکزه څخه غواړي. دا نو ډېره عجیبه خپلواکي ده چې مسکو په دې نه پوهېږي چې څنګه ئې ورکړي او دلته بیا ازبکان په دې نه پوهېږي چې څنګه ئې ځني واخلي. د لیوډمیلا له قوله د چارو مشوره په مسکو کي له هغه ببرووېچ څخه اخیسته کېږي چې ما وختي له د هغې پلا په سفر کي د خرسووېچ په نامه بللی وو. هیڅ تصور مي نه کاوه چې دلته لا هم پر موږ د هغه حیوانزي فرمانونه چلېږي.

لیوډمیلا چې یوه ښایسته مهربانه په ژبه پوه نجلۍ وه په خپلو خبرو کي ئې وویل چې ما ته نه ده رامعلومه چې تاسي ته د خرڅ له پاره څونه پیسې درکولي کېږي. دا معلومات لازمه ده چې له مسکو څخه واخیستل سي. سل روبله ئې له خپله جېبه راوکښه، ما ته ئې راکړه او زما پاسپورټ ئې د رسمیاتو له پاره له ځانه سره واخیست.

یوه بله ورځ بیا لیوډمیلا په دې هوټکل کي مېشته افغاني عالمانو ته د یو رمازه په توګه داسي تر غوږ ورتېره کړې وه چې تاسي خو به پیسو ته سمدستي عاجله اړتیا نه لرئ؟ یعني هر یو له غټو انډیو سره راغلی دئ څو زیاتي روپۍ پر وګټي. دا خوارکۍ په دې واقعیت نه پوهېدله چې د پوهانو په ډله کي کله ناکله ما غوندي یو تاریخي ناپوه هم بې له پلنډو څخه تش او تور راتېرېږي.

پخوا د اکاډیمۍ غړو ته لس، پنځلس او شل روبله له علمي درجې سره سم د ورځي په حساب د خرڅ له پاره ورکول کېدله. خو څو ورځي وروسته چې ئې تر ما پوري خپل خرڅ راورساوه نو رامعلومه سوه چې زما له پاره ئې د اکثر حد پر ځای اقل حد ټاکلی دئ. ځکه هغه چا ته چې پخوا به لس روبله د ورځي ورکول کېده، هغو ته ئې سږي سر د ورځي پنځه پنځوس روبله تادیه کړي دي. ما ته که څه هم د ورځي څلوېښت روبله راکوي خو د پخوا د شلو روبلو ارزښت هم نه لري. دا سرچپه محاسبه چې منطق ئې نه رامعلومېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپینېدو له پاره ئې د مراجعې ځای هم نسته د هغې نوي ګډوډۍ نتیجه ده چي د ګرباچوف له پیریسترو که څخه زېږېدلې ده.

په تېر سفر کي خو زه په خپله د خرڅ د اخیستلو له پاره د محاسبې دفترو ته ورتلمه خو دلته بیا له ښه مرغه قاعده داسي ده چي د مېلمه پالي په لاس هره میاشت تر هوټله پوري فمن یعمل راوړه کېږي. د دې قاعدې ښېګڼه دا بولم چي د "شاه میته، شاغلي نمیته" له زجره څخه تاسي ته آزادي درکوي او د محاسبې د هیڅ مامور تریو تندی او د هیڅ میرزا بوڅ مخ نه وینی چي پر تاسي ئې دغه مفتي روپۍ نه پېرزو کېږي.

په ژوند کي چي هر سړی د هر ګړي رنګارنګ پېښې ګوري نو په دې لړ تخاو کي سم نه پوهېږي چي خپل بیانونه له کومه سره راونیسي او د لوستونکو څه راز علاقې په نظر کي وساتي. زما په خیال ښه به دا وي چي د خپل مغز جریان ته واګي وروسپارو او وګورو چي هغه څه چپه چرلنډۍ راباندي وهي او د کوم انتخاب پر کړو وړو لارو باندي مو اچوي. د همدې پرېکړي له حکمه سره سم نو دا دئ بازارو ته راووتلم. ترافیکي اشارې هر چیري ستره او په منظم ډول سرې کېږي، ژړېږي او زرغونېږي خو لکه څنګه چي د وګړو بېره له پولیس څخه هېره سوې ده د تمدن ترافیکي مقررات همدغه شاني نه پالل کېږي او د هر سن خلګ زموږ په څېر د سړکانو پر هر ځای اوړي را اوړي. یوازي د موټرانو ډېروالی دا جبر له منځه نه دئ وړی چي موټروانان ئې لا اوس هم ځانونه په اجراء مکلف ګڼي. خو د نوي آزادۍ او ډیموکراسۍ له انحرافاتو سره ښایي دغه مکلفیت هم نن سبا په بې شمېره ټکرونو سره پای ته ورسېږي.

دلته هر څوک له اقتصادي بې ثباتۍ سره خورا په عذاب دئ. د تېر ژوند پوچ ثبات اوس دلته یو خوب او خیال ښکاري. هغه ورځ د رئیس په سویه یوه مهم سړي راته وویل چي دلته خلګ پیسې راوړي او زموږ شیان پر هره خوا راڅخه وړي خو موږ ته یو څو بې ارزښته کاغذونه پاتېږي. د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردارانو صوبدارانو ته دا چل نه ورځي چي څرنګه یو داسي نظم په دې اله ګوله کي ایجاد کړي چي په خپله آباد سي او د شیانو خرڅلاو ئې د اقتصادي انکشاف او قدرت په یو عامل باندي واوړي. یو بل عالم مي بیا ولیدی چي په خپل غټ او پاک دفتر کي لاس تر زنه بېکاره چورتکي ناست وو او په دې نه پوهېدی چي په کوم میتود خپلي علمي او تحقیقاتي چاري مخ ته بوزي. د پیري ستروېکه په ځلانده او روښانه لار کي هدفونه، کارونه او میتودونه ټوله له لوی او کوچني څخه پر یوه مخ ورک سوي دي. خو د انسانانو خوړل، چښل، اوسېدل، اغوستل، لوبېدل او داسي نور او نور بې له توقفه په دې حال کي بیا هم ادامه لري.

د هغو تودو تجارتي هلو ځلو په منځ کي چي زما پر شاوخوا جریان راته لري، کله ناکله پر ما باندي هم وخت ناوخته نابلده کسان دروازې ټکوي او د ټوکرانو یا دسملانو د علمي سوداګر خیال راباندي کوي. زما د نې یا نیت جواب بې له شکه دوی ته ښکرور درواغ معلومېږي. "فنائي" صاحب چي د اکاډیمۍ یو څېړونکی دئ د هر عالم سوداګر یا سوداګر عالم له پاره ئې د ګټې معیار یا نصاب دوه لکه افغانۍ ټاکلی دئ. ما ته د سعدي هغه بیت هر ګړی په دماغ کي راګرزي چي وایي:

نه محقق بود نه دانشمند

چـارپائی بر او کتابی چند

یو څو کاله پخوا که موږ ویلي یا لیدلي وای چي د دې ستر شمالي ګاونډي ځوان نسل به د کمونیزم په هغه مرحله کي چي کار به د استعداد او ورکړه به د اړتیا په اندازه وي، د اکاډیمۍ د هوټل پر کوټو به ګرزي او له خواره افغانستانه څخه به ئې د څو متره جاپاني ټوکرانو او دسملانو په موندلو پسي راوهلې وي. ما ته هم پر خپله پخوانۍ غولډنګۍ او اوسنۍ شودګۍ باندي غبرګه خندا راځي، او د غربي پوهانو هغه لیکني را په یادېږي چي ویل به ئې تر شا پاته مملکتونه یوازي د سیوسیالیزم له لاري په کاپیټالیزم پسي ځانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رارسوي.

زه همدا اوس د اکاډيمۍ په هوټل کې او د اکاډيميانو په ټل کې حتی په دې شرمېږم چې ووايم کتابخانو ته ځم او هلته په زړو آثارو کې د ژوند نوي حقايق لټوم. علمي څېړنه او پلټنه په دې فضا کې د پر سد سړي له پاره د شرم او د بې سده له پاره د لېونتوب خبره ده.

خارجي خبرونه چې دلته په خپله کوچنۍ راډيو کې اورم نو ښکاري چې د افغانستان کشاله يو ځل بيا هم د سياسي منافعو پر مېز باندې د ږيرورو او بې ږيرو له خوا څخه شنل کېږي او له دې غړکي څخه هر څوک غواړي چې خپل کوچ راټول کړي.

هغه خلا چې زموږ په هيواد کې د سرو لښکرو له انقلابي وتلو سره راپيدا سوې ده او ګاونډي دوستان ئې دې ته هڅولي دي چې په خپل متضاد نفوذ هغه ډکه کړي، همدغه ته ورته يوه پروسه په دې سيمو کې هم تر ستر ګو لاندې تېرېږي. له يوې خوا د دې هيوادونو تر منځ مذهبي، کلتوري، او تاريخي پيوندونه او له بلې خوا ايتنيکي او فرقوي انفراديتونه هم ورسره مخ پر انکشاف دي. حتی پاکستان او ايران پر جدي حرکت راغلی دئ چې د خپل نفوذ د زياتېدو له پاره ئې لويې رخنې ولټوي. لکه د شوروي په ننوتلو کې، دوی هم له دې نفوذه سره ښايي خپلې ذاتي ستونزې له ځانو سره يو ځای ننباسي او د جرياناتو بهيرونه نور هم داسې سره ولړي يا ومروړي چې حل ئې يوازې د تاريخ په لوی طبيعي خرېږي کې يوه زمانه ځان څرګند کړي.

هغه بله ورځ مې د يوه لوی مسجد له مخه سره د مېز پر سر باندې په اوزبکي ژبه او عربي خط باندې د مذهبي ادبياتو يو زيات شمېر آثار وليدله چې خرڅلاو ته وړاندې سوي وه. څرنګه چې دلته پر هر شي باندې خلګ د کتلو له پاره راټولېږي يا راپنډېږي نو د دې آثارو ننداري ته هم لږ سړي او ږيرخريلي زلميان له يوې خوا او بلې خوا څخه راګرزېده، تر کتنې لاندې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیوله او هم ئې پیرودله.

تاشکند خورا لوی او ډېر غټ ښار دئ. آبادۍ ئې یا ودانۍ ئې تر حساب تېرې دي. خواپاکي هم لري او د ژوند زیاتره وسایل ئې زموږ په پرتله پر عصري تمدن برابر دي. روسي او اوزبکي دواړي ژبې د ښار په هره گڼه گوښه کي په څرگنده توگه اورېده کېږي. اجتماعي وضعه ئې هم د ستاینې وړ ده ځکه څوک چنداني په چا پسې نه گوري. خو که د خیره سره د چپه چرلنډیو دوره پر راورسېده او د تاریخ پر زاړه خره باندې سپاره سوه نو خورا ژر به ئې د مادي نعمتونو ځای روحاني رجعت ونیسي. لاکن له هر څونه تر شا تگه سره دا تصور نه سي کېدای چې د کندهاري ذهنیت په معنا ږیروره مسلماني به دلته مسلطه سي. ځکه د اویا کالو ښووني او روزني دغه شان امکانات په ریښه کي له منځه وړي دي.

په بازار کي د کالو او جامو زیات ډولونه لیده کېږي. خو محلي کلتور ئې په هغه اوزبکي یا تاجکي خولۍ کي ځان پوره ښکاره کوي چې پر خریلي سر باندي جگه ولاړه وي. نارینه اوزبکان د کندهاریانو په شان سر پاک خریي اما د ژمي په سړو کي پر خریلي سر باندي د پوست ببره خولۍ پر سروي. د بېلابېلو توکمونو تر منځ د نسل گډېدني خورا په زړه پوري انساني څېرې ایجاد کړي دي، مثلاً هزارگي ښه لیده کېږي چې شنې ښایسته اروپایي سترگي ئې وي.

را به سو نرخ او نوا ته. زه چې له کابله رارهي کېدم نو هلته د روبل نرخ په اتلس افغانس وو. په دې حساب نو د شیانو نرخونه یو له بله پرتله کېدای سي. یو گیلاس چایي په لس کوپیکه او یوه کوچنۍ ټیکۍ یا ټیکله چې "بولچکه" ورته وایي په شل کوپیکه رانیول کېږي. هندوانې کیلو په یو نیم تر دوه روبله او خټکی هم دغسي. سیب یا مڼې د کیلو په حساب په اته تر لس روبله او انگور له دوولس څخه نیولې تر پنځلس روبله پوري. ښې مغزني بریاني پلۍ یا موملۍ له دوولس څخه تر څورلس روبله پوري. د ډوډۍ ټکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي په بېلابېلو دولتي او شخصي دوکانو کي په لس، پنځوس تر اتيا کوپيکه پوري رانيولې ده. د دې تفاوت سبب به نو له ما څخه نه پوښتې ځکه په هر حال دا د نرخونو يوه بې نظمي او يا د يوه نوي نظم بې سنجشي وبولئ چي د اقتصاد په برخه کي پوليسي غوندي تحقيقات ايجابوي. سيخ کباب څلور سيخه نن په اته روبله خوړل کېداى سي. پنډي ورجي له غوښو او ډوډۍ سره په څلور روبله ملاوېږي. ښه کشمش په دېرش روبله او مميزي په پنځه ويشت روبله وايي. هېل کېلو په يو سل او شپېته روبله. اومه نخود او ماش هر يو کېلو په اووه روبله. پنډي ورجي په دولتي دوکان کي په څلور روبله او درې اويا کوپيکه خرڅېږي. غوښي په پنځه دېرش روبله کيلو ملاوېږي.

د دې ټولو پر ېمانيو په منځ کي زه په دې نه يم برياليی سوى چي کوچي وخورم او يا وچي چايي چيري رانيسم. آبکرمي هم علمي سوداګرو په بازار کي چور کړي دي او نيکلي چاى جوشه هم پر ما نه ده پېښه سوې چي رائې نيسم. له دې بابته نو يو څه په تکليف يم ځکه هر سهار په ترخو چايو پسي مجبوره يم چي يو څه شکل لاره ووهم.

که څه هم دلته زياتره نرخونه هره ورځ مخ پر لوړه ګړندی ټوپ وهي خو موږ چي په کابل کي له ګرانۍ سره پوره آموخت نيولی دئ نو بيا هم شيان ارزانه راته ايسي او بې له چورته پيسې پر راباسو. لاکن د دې ځای معاش خوره يا تنخاخوره خلګ خورا زيات په عذاب دي او هره ورځ له دې نوي آزادۍ څخه چي د پيسو د غلامۍ زېرى ورکوي تر پزي پوري راغلي دي. نتيجه به ئې ضرور خړى او خرېړى وي.

که موږ د مارکس هغه شاخص په نظر کي ونيسو چي د ټولنيز انقلاب ماهيت د ملکيت د روابطو په تغير کي ځان څرګندوي نو په ډاډه زړه ويلای سو چي دلته يو غښتلی انقلاب روان دئ اما داسي يو انقلاب چي مارکس ئې په خپلو څېړنو کي پېش بيني نه وه کړې.

تاشکند چي پخوانيو تاشقند باله او اوس په روسي حروفو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاشکینت ویل کېږي، په ژمي کي عجیبه هوا لري. یوه میاشت دمخه دلته واوره واورېده. بیا هوا د سانتیګراد یوویشت درجې ته ورسېده. اما په دې حال کي هم د هوا د رطوبت په خاطر سړی مجبوره کېږي چي هم بالاپوښ واغوندي او هم وړینه خولۍ پر سر کړي. یو څه اوربښت چي بیا په دا بله ورځ وسو نو درجه ئې یو دم د صفر درجې ته راټيټه سوه.

تاسي ما ډېر وبخښئ! زه اوس په داسي حال کي چي د نوچه او نیمچه سوداګرانو لېونۍ ځغاستي د رانیولو او خرڅولو له پاره زما په چارچېریال کي په بېړه رواني دي او زه چي هم ضرور د اوزبکانو په نظر کي د پاخه عمر یو سیانه سوداګر ښکارم نو زما د نې پر جواب ئې هیڅ باور نه راځي او امید ئې نه راڅخه پرې کېږي. سره له دې چي وخت ناوخته د ټوکرانو او دسملانو له پاره د کمسمول انقلابي ځوانان دروازې راباندي ټکوي خو زه لا بیا هم دې ته جوړ پدلی یم چي د کتابو د څېړني په باره کي په خپلو برغزوو باندي تاسي ته درد سر درکوم. ښه دا خو نو زما تاریاک وبولئ چي له ښکاره ضررو سره ئې زه له عملي توبه څخه ځان نه سم ژغورلای.

د هغي هڅي په سلسله کي چي ما غوښته زموږ د تاریخ او اقوامو په باب ځیني داسي نادر آثار چي انګرېزانو په نونسمه پېړۍ کي کښلي دي او دلته مونده کېدای سي له یوه او بله ځایه څخه معلومات واخلم. د تلاښ په نتیجه کي دونه رامعلومه سوه چي دلته د علیشېر نوایي په نامه یوه ستره کتابخانه سته او هلته بیا د "ترکستانسکي زبورنیک" یعني د "ترکستاني مجموعې" په نامه د بېلابېلو آثارو یوه غټه ذخیره ساتل سوې ده. د دې کتابخانې د لیدني او د ځینو کتابو د لوستني له پاره ئې د ختیځ پېژندني انستیتوت ته ورغلم. د هغه ځای آمر چي زموږ ځینو ملګرو د هغه له سړې وضعي څخه شکایت درلودی، خو ما ته ئې د دغي کتابخانې د مقاماتو په نامه یو سپارښت لیک وکښی چي زه په خپل روڼ مننه ځني کوم. دا کتابخانه یا کتابتون زموږ هوټل ته نژدې په هغه لویه میداني کي موقعیت لري چي د "پلوشد لیننه"

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانی نوم ئې په دې تازه وختو کې د "میدان مستقلي" په اوسني رسمي نامه باندي سرکاري خلګو بدل کړی دئ. دلته د "لېنن" یوه ډېرهستره مجسمه لیده کېږي چي ښايي یو وخت به ئې د انقلابي سیاست په تودو جریاناتو کي د غښتلي روحيې الهام خپراوه. خو اوس ئې یوازي هنري عظمت د زیاتي ستاینې او پاملرنې وړ دئ. هغه بله ورځ د مسکو د کومي کلیسا د رنګولو یوه پخوانۍ غمجنه خاطره د تلویزیون پر پرده باندي د زړو کمونیستیانو د یوه ناوړه عمل په توګه په تاسف سره غندل کېدله او د ژور نالیستانو زیاترو دلایلو ئې د هنري ضیاع پر احساساتو باندي تکیه کوله. که د تاریخ دغه منطق ومنو نو د لېنن د داسي مجسمو راځوړېده یا ویجاړېده چي اوس په ځينو ځایو کي روان دي همدغه شان د نن ورځي د ډیموکراتانو یو هنري جنایت ګڼل کېږي.

له سیاسي قضاوتونو څخه ځان راباسم او وایم چي تر څو پلټنو او پوښتنو وروسته مي د کتابخانې لاره وموندله. ډېره غټه ودانۍ وه چي زښته لويي دروازې او کوټې ئې درلودې. زه د خپل سپارښت لیک په مرسته د نادرو آثارو د ساتني یوې ځانګړي کوټې ته راوستل سوم چي هلته د رحیم جان فیض الله یف سره آشنا سوم. دی په خټه اوزبک وو او د عمر کلونه ئې د شپېتو په آخره کي معلومېدله. رحیم جان وچ کلک اوډنګر سړی وو خو د پټي خولې په جوړښت کي ئې یوې ښکلي طبیعي موسکا ځان ښکاره کاوه چي د ده د سترګو له تاتاري تبسم سره ئې سیالي کوله. د خبرو په ترځ کي ئې راته وویله چي یو زمانه ئې زموږ د هیواد د غازي آباد په فارم کي هم کار کړی دئ. رحیم جان کټ کټ په منډه خوله وخندله او راته وې ویله چي ما ته به په افغانستان کي زیاترو خلګو ویله چي ته هزاره يې او ما به هم سره ورسره ښوراوه چي هو کې. د ده یو څو پښتو جملې هم زده وې. داسي ښکاري چي د ختیځ پېژندني انستیتوت ته منسوب زیاتره ځوانان یا زاړه مامورین په یوه یا بله زمانه کي د یوه یا بل مقصد له پاره په یوه یابل نامه افغانستان ته راغلي دي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د هیواد په وجود کې ئې د شاهي سرکار تر حمایې لاندې د خپل مقدس یا نامقدس ماموریت لنډې یا اوږدې دورې تېرې کړې دې. خو د تاریخ دغه برخه موهغه له سترګو څخه پټه ورشوه چې د حقایقو سرونه ئې د تاریخ په مرموز دریاب کې ډوب پاته سوي دي او نور لا هم ډوب پاته کېږي. که چیرې یو وخت زموږ هیواد په رشتیا د ملي حاکمیت خاوند وګرزېدی نو باید چې هم د تېر تاریخ جاسوسان او هم د نوي تاریخ منافقان اولس ته وروپېژنې.

له دې بېهوده بیانه څخه چې راوګرزم نو به درته ووایم چې د "ترکستاني مجموعې" په اړه مې خپلې پوښتنې او ګرویږنې پیل کړې. دلته د لومړي ځل له پاره په دې ورسېدم چې "سانکت پیتربورګ" کې د ترازي واکمنۍ له خوا څخه ښه وختي لا دې کار ته اقدام سوی وو چې د افغانستان په شمول د آسیایي سیمې په باب ټولې چارې د ترکستاني حوزې په څېړ وپېژني او د سیاسي اهمیت په خاطر ئې د ګڼو اولسونو کلتوري، اجتماعي، اقتصادي، او داسې نورو چارو ته جدي پاملرنه راوګرزوي.

د کتابخانې هغه درې کیټلاګونه چې لومړی ټوک ئې په ۱۸۷۸م کې، دوهم ټوک ئې په ۱۸۸۴م کې او دریم ټوک ئې په ۱۸۸۸م کال کې د مراجعې له پاره په خورا منظمه طریقه په "سانکت پیتربورګ" کې چاپ سوي دي، پر دې ټکې باندې پوره دلالت کوي چې دغه زمانه د سیمې مسایل د روسیې په ګډون د اروپایي نفوذ د خورا زیاتې توجه وړ ګرزېدلي دي. د ترکستاني مجموعې ټوله ټوکونه نن ورځ که څه هم په شمېر پنځه سوه څلور نیوې (۵۹۴) ته رسېدلي دي اما غټه برخه ئې تر ۱۸۸۸م پورې په شمېر څلور سوه شپاړس (۴۱٦) ټوکه ته په وختي کې لا رسېدلې وه. یوازې په دوهم او دریم کیټلاک کې د افغانستان په باب انګرېزي، فرانسوي، الماني او روسي آثار چې ما وشمېرله درې سوه پنځوس (۳۵۰) ته ئې حساب ورسېدی. داسې ویل کېدای سي چې په نونسمه پېړۍ کې زموږ د حوادثو په باب د نړۍ والو مدارکو یا منابعو زښته غټه ذخیره په دې منظمه مجموعه کې راغونډه سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. د صحافت له پلوه بیا تر ټولو په زړه پوري خبره خو لا دا ده چي ګرده ټوکونه ئې د قطع له مخي په یوه اندازه دي. هغه آثار چي په وړه قطع چاپ سوي دي د سپین کاغذ بیاض ئې وراچولی یا پوري سریښ کړی دئ او هغه بیا چي قطع ئې غټه وه د پاڼو په کټ سوي شکل ئې یوې اندازې ته راکوچني کړي دي.

غواړم دا د څېړني او کتاب لوستني یا پلټني بې خونده موضوع چي زما د روان واقعي چارپېریال د اقتصادي هلو ځلو په تودو سرابښیو کي یوازي د لېونیانو له پاره د شخوند ګوله ګڼله کېدای سي نور هم پر دغه ځای بس کېدو ته ورسوم او ستاسي د سر پر سد ماغزه ورباندي چپه نه کړم.

که څه هم د خوراکي موادو او اقتصادي ګډوډیو خبري د حیاتي مشکلاتو په فهرست کي لومړی ځای نیولی اما یو بې کبره سړی بیا هم دلته کولای سي چي د دوی په لغمان (یعني زموږ په مکرونیو) پر یوه وخت په درې روبله چي ارزښت ئې د سپېره کاغذ درجې ته په بېړه روان دئ، خپله وږې ګېډه ډکه کړي. عرضه داسي نامنظمه ده چي هیڅ شی په هیڅ ځای کي هر وخت نه مونده کېږي. نو ځکه د شیانو موندل او د هغو رانیول د وچ تصادف خبره ده. په دې اړودوړ کي چنه وهل یا د رقابت موضوع کوږټ مطرح کېدای نه سي. هر چا چي پر هر شي هره بیه کښېښووله نو هغه خپل عدالت یا انصاف بللای سي. پر هغو شیانو چي د سرکار وچ اقتصاد تر واقعي ارزښت ټیټ یا کښته نرخ ایښی وي نو هغه بیا د جلابانو د لوی چور په غټ انډوخر کي داړو کسانو یا ضرورتمندانو لاس ته نه سي رسېدای. نرخونه هر ګړی هره ورځ په جوتکو پورته غورځي. یوازي ختکی ما ته رامعلوم دئ چي له خوړوالي سره ئې نرخ د نورو شیانو په تناسب ثابت او یا ټیټ پاته دئ. کیلو په درې تر څلور روبله پوري په دې اقتصادي اله ګوله کي پوره ارزانه معلومېږي. د نامنظمي عرضې په باره کي دونه ویلای سم چي یوه ورځ یوه دانه کمیس ما بیه کړ چي په اویا روبله ئې راته ووایه. بله ورځ هم هغسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمیس په پنځوس روبله زما لاس ته راغی. یو بل ځای بیا کټ مټ هم هغه راز کمیس په دوه سوه پنځوس روبله د خرڅلاو ننداري ته راوړه سوی وو. ځیني خلک چي له رقابته ځخه دا امید لري چي د نرخو په کنټرول کي نقش ولوبوي نو دا خو هغه وخت امکان لري چي منظم تولید له منظمي عرضې سره یو ځای د رقابت په میدان کي د نرخ توازن منځته راولي. پرته له دې ځخه نو دا هغه بحرانونه بلل کېږي چي سر پر سر د نورو بحرانونو د زېږولو له پاره زمینې مساعدوي.

را به سو زما د چپرکټ مسئلې ته. زه خو په هغه دوه بستره ایزه کوټه کي له دې جهته ناآرامه یا اندېښمن وم چي ښایي یو نابللی مېلمه به له ما سره واچوي. ځکه کوټه اوس یوازي ما ته پاته وه او معتمد صاحب تاجکستان ته تللی وو. په هر حال داسي پېښه سوه چي یو نفري کوټه په همدې منزل کي خالي سوه او زه په بېړه چسپانده ورته راکډه سوم. دا کوټه د هغي بلي په تناسب یو څه خوبائي ګاني او یو څه هم بدودی لري. ښه، ژوند خو نو د توافق ضرورت هرومرو منځته راوړي. دلته تر هر څه دمخه د چپرکټ نرمو تختو ما ته دا بېره په زړه کي رااچوله چي نن یا سبا به زما د وجود تر بار لاندي ماتي سي. ناڅاپه د "رنجبر" په مشرۍ د اکاډیمۍ غړي چي ترکمنستان ته تله زما کوټې ته د لیدلو له پاره راغله او دلته زما د یوازي والي اعتکاف په لوی بانډار باندي مات سو. شناخته خېل یو په بل پسې ټوله کوټې ته راننوته او یو یا بل ځای کښېناستله. زما پر دغه لړزانه چپرکټ باندي چي هر ګړی مي د هغه د ماتېدو انتظار ایستی، څلورو کسانو چخ پر چخ ځانونه واچوله. زما له ډېري بېري سره د ماتېدو حادثه نه سوه پېښه او د یارانو بانډار په خیر و عافیت داسي پای ته ورسېدی چي نه څه مات سوه او نه څه توی. دا بله ورځ مي د کابل راډیو خبرونه اورېده چي په هغو کي د راکټونو د ویشتني او د خلکو د وژني حوادثو مي د مزاج پر خټه کېدو باندي د خوابدۍ ډېر تاثیر واچاوه. له ځایه راجګ سوم او چپرکټ ته مي توجه راوګرزېده. اوه، بابا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسه وګوره چي دا نازک لړزانه چپرکټ څرنګه تر دونه درنو غټو پلنډو لاندي خپل ټینګښت وساتی. نالي مي راپورته کړه چي د تختو ساختمان ئې وګورم. که مي کتله چي تر نالي لاندي د پنځګونو روبلونو پنځه لوټونه هوار غزېدلي پراته وه. ګوره ئې چي دا به نو د کوم خوار یا کومي خوارکۍ څخه دلته هېر سوي وه. د دې اتفاقي پېښي سره زما د مزاج جریان هم بلي خوا ته واوښتی او د پېښو پر عجائباتو باندي داسي لېونۍ خندا راغله چي بسته نیم ساعت مي خوله نه سواى سره ټولولاى. ته نو اوس راسه دا تصادف د علت او معلول تر منطقي قانونمندۍ لاندي ارزیابي کوه.

راسئ چي اوس نو بیا د ژوند پر یوه بله پرده باندي درسره ورغبرګ. په کوټه کي یوازي آرام پروت یم، د تېر ژوند د حوادثو پاڼي یو په بل پسې په چورت کي را اړوم، او ښې و بدي ئې د تداعي په ایله جریان کي پرله پسې ګورم. د دې نندارې په وخت کرار کرار د کوټې دروازه راوټکېده. ورته راوپاڅېدم او دروازه مي ورخلاصه کړه. زما یو انډیوال دی او یوه روسۍ ښځه ورسره ولاړه ده. څو واره پخوا هم دغه زما وطندار چي کله به ئې د یو چا سره د روسي ژبي د پوهېدو ضرورت سو نو ما ته به ئې مراجعه کوله او ما به په خپله ماته او ګوډه روسي د ده له پاره د ترجمانۍ وظیفه اجراء کوله. دا پلا هم زما دا خیال سو چي ښایي یوې دغسي مفاهمې ته به ضرورت لري. روسۍ ښځي راته وویل چي: "ابایا" پېژنې؟ ما په جواب کي ورته وویل: هو. ځکه زه داسي وپوهېدم چي ښایي د ختیځ پېژندني هغه عالمه مېرمن به راښیي چي "ابایوا" نومېدله. زه نو په دې چورت کي ولاړم چي ښایي د هغې کوم پیغام به ئې ما ته راوړی وي. ځکه وختي مي یوه مقاله ورکړې وه او په هغې کي مي د روسي او پښتو ژبي تر منځ ځیني ژبني مشترکات راټول کړي وه.

ښځي زیاته کړه چي سبا به هلته راسې او خپل صحي معاینات به تکمیل کړې. اریان سوم چي دا اوس څه راته وایي او زه په کوم چورت کي یم. زما انډیوال بیرته خپلي کوټې ته ولاړی او روسۍ ښځه ما اطاق ته دننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوبلله. تر څو سمو او ناسمو جملو وروسته رامعلومه سوه چې "ابايا" د يوه سړک نوم دئ او هلته يو پولي کلينيک واقع دئ او زه په دې محکوم سوی يم چې هلته بايد صحي معاينات تر سره کړم. هک پک پاته سوم چې زما نوم چا ورښوولی دئ او ولې يوازې زه د سلهاوو مېلمنو په جمله کې په دې محکوم سوی يم چې د دوی تر صحي معاينې ووزم. په خبره چې ئې وپوهېدم نو مې دې ښځې ته وويل چې زه پوره صحت يم او دې خبره داسې راغبرګه کړه چې خدای دې وکړي. د ښځې له وينا څخه داسې څرګندېده لکه بله پلا چې ئې هم ما ته خبر راکړی وي خو ما د دوی هدايت ته اعتناء نه وي کړې. ځان ته مې وويل چې ته خو له ډاکټرانو څخه تښتېدې اوس به د تاشکند په پولي کلينيک کې د خپل شوم سرنوشت له شامته په درواغو د ساري ناروغيو د تجربې ښکار سې. ښځې په ټينګار او په تکرار راغبرګه کړه چې هېر ئې نه کړې، هېر دې نه سي. ما چې ورته وويل سبا خو د يکشنبې رخصتي ده نو دې په ټينګار راغبرګه کړه چې بل سبا حتمي راسه او که رانغلې نو بيا دې بيايم!

پردېسي پر يوه خوا، بېکسي پر بله خوا او پر دوی سربېره مې خپل خدايي لېونتوب د ماغزو ټوله ښه او بد حسابونه پرله راګډ او وډ کړه. آرام مې په ناآرامي بدل سو. له نوکريوالو څخه مې پوښتنه وکړه چې آيا دلته ستاسي په هوټل کې داسې مقررات سته چې مېلمانه مو بايد تر صحي معايناتو ووزي. ټولو د نې جواب راکاوه. دغه شپه او دا بله ورځ و شپه په عجيبو اندېښنو کې راباندې تېره سوه. يوازې دا پوښتنه زما له پاره مهمه وه چې نوم مې چا ورښوولی دئ او ولې يوازې زه د دې بدمرغۍ ښکار ګرزېدلی يم. د دوشنبې په سهار وختي راوغورځېدم چې په شرپ باران هم اورېدی او زما له پاره ئې دا ډېره مشکله کړې وه چې په يوه نابلده ښار کې يو ناآشنا ځای په وران دماغ او ړندو سترګو پيدا کړم. لکه ړوند چرګ د هوټل په زينو کې پورته، کښته، تاوبالا کېدم او نهايي تصميم مې نه سوای نيولای. يو ځل مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر سو چي د اکاډیمۍ مېلمه پاله نجلۍ په دې قصه خبره کړم او ورته ووایم چي د موضوع حقیقت رامعلوم کړي. تلیفونو ئې جواب نه وایه او دې پر پکړي ته مجبوریت ورسولم چي له پېښي څخه تېښته نسته. د اکاډیمۍ انډیوالانو ته مي هم حال نه سوای ویلای ځکه ما ول سمدستي به چوکچوکه خپره کړي چي یو چا د ده له کومه جنسي تماسه څخه ساري مرض اخیستی دئ او د هغه یا د هغې د شکایت پر اثر د اکاډمیسین کاندید نومیالی سرکاري طبي مقاماتو د معایناتو له پاره جلب کړی دئ. له وچي ناچارۍ راوخوځېدم او تر څو غلطو لارو وروسته پوښتنه پر پوښتنه په خړه د باران په شرپ کي هغه ځای ته راورسېدم چي روسۍ ښځي ئې پته راښوولې وه. ورغلم، یوه خندانه او مهربانه روسۍ ډاکټره راباندي پېښه سوه چي زما د ویني د اخیستلو وظیفه ئې خپلو نرسانو ته ورکړه. په دې منځ کي مي دې ډاکټري ته وویله چي زه خو له پولي کلینیک څخه خورا ډار یږم ځکه یو وخت ئې زموږ په وطن کي د امیندواري ښځي د نس عکسونه د نارینه په دوسیه کي ایښي وه او چوکچوکه سوه چي د نر په نس کي اولاد دئ. وې خندل چي بې غمه اوسه. خو ما ورغبرګه کړه چي زه داسي آسانه نه سم بې غمه کېدای. ځکه تر هر څه لومړی په دې رمز نه پوهېږم چي ولي یوازي زما نوم د کوم څرک پر اساس دې صحي معاینې ته وټاکل سو او څرنګه تاسي پوه سواست چي زه په دې هوټل کي اوسم. مؤظفه ډاکټره هم په دغه نه پوهېده چي دا څرنګه پېښه ده. تاسي ته دي وویل سي چي د ویني اخیستل یو ساده کار وو او زما په دونه اندېښنو نه ارزېدی خو زړه مي راته کېناسته وو چي نه چي دا یوه دسیسه نه وي او سرنوشت مي د ژوند په آخر وخت کي یوې بلي مجرا ته وا نه چوي. ښه هر کله چي ئې د معایناتو نتیجه راکړه بیا به تاسي ته بیان وکړم چي البته له پوره معافیته سره له دې آزمویني څخه تېر سوی یم.

تر ډېر چرت وهلو وروسته دغه ناحله معما ما داسي حل کړه: په هغه ورځ چي د تاشکند میدان ته راورسېدو نو په ټرمینال کي د ننه دوو ښځو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ آواز داسي اعلان خپراوه چي په تاشکند کي د ډېر وخت له پاره پاتېدونکي کسان باید دوی ته ورسي او ځانونه ثبت کړي. زیاتره بختور کسان چي په دغه روسي اعلان نه پوهېده نو پر هغه لار وتله چي د خلکو غټ هجوم ور روان وو. خو زه چي له بده مرغه په اعلان وپوهېدم نو د ښاري امنیت په خاطر مي د ځان له پاره دا یوه مدني وظیفه وګڼله چي خپله د لسو میاشتو اوږده استوګنه دلته ثبت کړم. دغه ثبت چي د دوی دفترونو ته ولوېدی نو هغه وو چي تقریباً دوې میاشتي وروسته ئې ما ته ګزک راورسېدی. نور خلګ چي له نورو ځایو څخه د سرویسانو یا رېل په ذریعه له امراضو سره ځي او راځي خو صحي معاینات کورټ نه په خبر ېږي. زموږ اځکزي چي پر ځان باندي ئې د حیواني ناپوهۍ پخه ټاپه وهلې ده زیاتره په سرکاري اوامرو خپل سر نه خلاصوي یا خپل غوږونه کاڼه اچوي او دا ئې عموماً د هغي تاریخي هوښیارۍ نتیجه ده چي دوی ته له سرکاري قید و بسته څخه امان او نجات ورکوي. اما زه چادي چي د پوهي په پوچ مضمون باندي ځان غره احساسوم نو همېشه د هغه خره په شان چي د خپل مرګ په لاره کي د لېوه سره چار نالي وهي د قوانینو او مقرراتو د رعایت له شامته په دغسي تلکو کي ښکېل پاته کېږم. څرنګه چي دا پېښه د روسي ژبي د لږ څه زده کړي نتیجه وه نو بې له شکه د متل دا اړخ اثبات ته رسوي چي خپله ژبه ما ته بلا سوه.

د پېښو جریانات که د نېټې له بابته وړاندي وروسته سي نو خوا به نه راڅخه بدوی، ځکه په زیاترو مواردو کي تر وچي نېټې حقیقي واقعې یا واقعي حادثې ډېر زیات اهمیت لري. د خبري سر به بیرته د سفر له پیله څخه راوموښلوم. هغه مهال چي زه راروانېدم نو مي مناسبه وګڼله چي د یو فرهنګي خدمت په څېر د مالونو پر ځای د پښتو یو څو کتابونه د سوغات په توګه راواخلم او دلته ئې د ازبکستان د راډیو د پښتو خپروني څانګي ته هدیه کړم. ځکه دا خپرونه چي د تېر کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه راشروع سوې ده هر سهار پر شپږ نیمي بجې نیم ساعت ادامه لري. ما د سرحداتو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزارت د نشراتو له ریاست څخه یو څو کتابونه د همدې سوغات له پاره وغوښته او هغو هم په ډېره علاقه ما ته راوسپارله. دلته یو چا راته وویل چې د خپروني نطاق ئې یو ځوان پښتون دئ چې له څو کلونو راهیسي ئې په همدې ځای کي پاخه اړولي دي. زموږ د اکاډیمۍ په راغلو ملګرو کي یو زلمی چې په ظاهره د پښتني کلتور او ژبي له رشده سره افراطي غوندي مینه ښکاره کوي او له همدې نطاق سره نژدې پېژندګلوي لري، ما د دې کار له پاره مناسب وباله چې هغه نطاق یو ځل ما ته راوبولي. خبره څو هفتې سرﻩ پاته سوه او ما هم سر په و نه ګرزاوه. فکر مي کاوه چې ما ول وزګاره به نه وي. خو په دې منځ کي یو بل یوه راته وویله چې دغه زلمی هم غواړي چې هلته په دې راډیو کي ځانته یو کار ولټوي. زه نو په دې خبره ورسېدم چې اصلاً د رمز ټکی دا دئ چې مبادا له ما سره به د نطاق د شناخته کېدو په سبب د ده د استخدام چانس کمزوری سي او ما ته به بلنه راکړي چې هلته کار وکړم. بله ورځ مي بیا واورېده چې سهیلا اصغري وردګ نجیبي هم تاشکند ته راغلې ده او غواړي د ډاکټر عثمانوف په واسطه په راډیو کي ځانته کار ولټوي. ما چې دلته د بې اعتباره روبل په حوزه کي دا سرشکوني او سیالۍ ولیدې نو دې نتیجې ته ورسېدم چې د ډالرو او سټرلینګ په حوزو کي د پښتني نطاقانو، شاعرانو، ادیبانو، لیکوالانو او ژورنالستانو تر منځ به لا څونه زوروري ډکې رواني وي او خارجیانو ته به دا سپین پښتانه د یوه او بل په تورولو کي په کومه بې رحمي یو د بل د پښو خاوري کاږي. دا به نو اوس ومنو چې ژوند په خپله اصیله معنا تنازع للبقاء ده، که څه هم د ځان د فنا په قیمت چا ته تمامه سي.

ډاکټر عثمانوف چې یو ازبک پښتو پوهاند دئ او په افغانستان کي ئې د شوروي په نمایندګي زیات وخت تېر کړی دئ د ختیځ پېژندني په څانګه کي کار کوي. دی د خوشال خان په باره کي څېړني لري خو اوس د دې پر ځای چې د خوشال توره، رندي او مستي د هغه په ادبیاتو کي راسربېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، غواړي د شیخ رحمکار په مریدي کي د هغه د نقشبندي توب د بندګۍ پدیده ډېره مهمه ښکاره کړي. دا هم د رواني ارتجاعي غلبې غښتلې ځپه وبولئ چي د تاریخ د سترو شخصیتونو انفعالي خواوي د هغه تر فعالو مبارزو ډېر اهمیت کسبوي.

د دې ډاکټر صاحب د کار کوټې ته ورغلم او په ډېره مهرباني ئې له ما سره پوښتنه او ګروېږنه وکړه. له خبرو څخه داسي رامعلومېدی چي یو غوږ ئې وختي لا چښلي وه. د مجلس په ترڅ کي مي ورته وویل چي یو خو ستاسي د پښتو خپرونه د سهار پر شپږ نیمي بجې هیڅوک نه اوري ځکه دا وخت بي بي سي نیولی دئ او د هغې ځای څوک نه سي نیولای. بل دا چي یو څو فرهنګي سوغاتونه ما راوړي دي او نه پوهېږم چي چا ته ئې وسپارم. ده د مراجعې له پاره یو داسي څوک راوښووی چي هغه هیڅ له راډیو سره کوم ارتباط نه درلودی او نه ئې هلته خوله چلېدله. ده خو البته په دې پلمه تر ځان تېر کړم لاکن یوه بله ورځ وروسته په دې خبر سوم چي په سر سره د ده زوی د هغې خپروني اداره پر غاړه لري. د ژوند په حرکت کي سرړی د مناسباتو او روابطو له عجیبو ترکیبونو سره مخامخ کېږي. ما غوندي سپېره پښتون او ساده چادي ته د دغه شان بې ضرورته پېچومو اسرار کورټ نه معلومېږي.

په یوه بله ورځ کي مي د ختیځ پېژندني د پوهنځي یوه کارمند ته وویله چي موږ پښتانه دې ته د قدر په سترګه ګورو چي ستاسي په جمهوریت کي تر نورو دمخه د پښتو خپروني راډیویي پروګرام پیل سوی دئ. ما چي په دغه ابتکار کي د ازبکستان د علاقې دلیل ځني وپوښتی نو ده په جواب کي راغبرګه کړه چي هدایت ئې په مسکو کي تثبیت سوی دئ. یعني دا هم د ازبکانو کار نه دئ بلکي د شورویانو دستوري اقدام ګڼل کېږي.

هر چیري په هر ځای کي زما د مایوسانه یادونو د تکرار په نتیجه کي بالآخره کومه ورځ ناڅاپه یو څوک کوټې ته راغی او د معرفۍ په وخت کي ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان راوښووی چي د ازبکستان له راډیو څخه د پښتو خپروني نطاق دئ. هغه ته مي په بېړه بې له نورو پوښتنو څخه تر هر څه دمخه د راوړو کتابو پلنډه وردغاړي کړه او ځان مي له دې ناکاره فرهنګي باره څخه د خدای په فضل خلاص کړ. یو چا بیا په دې خبر کړم چي دغه ځوان د سرفراز مومند وراره دئ او اووه یا اته کاله کېږي چي دلته ئې له خپلي کډي او کوچنیانو سره پاخه اړولي دي او د وطن د آزادۍ یا دفاع جګړه ئې نورو زلمیانو ته پرې ایښې ده. دا د افغانستان لرغونی تاریخي منطق دئ چي غل تر مورۍ ځني ووزي نو بیا له ځار ني څخه پوره معافیت پیدا کوي.

له کابله څخه د رارهي کېدو په وخت کي خو ما دا فکر کاوه چي ښایي دا فرهنګي سوغات به یوازي زما لېونتوب وي چي د مالونو پر ځای مي بېهوده کتابونه له ځانه سره را اخیستي دي. خو په وروسته کي رامعلومه سوه چي زموږ نورو ملګرو حتی د خپلو ډېرو مالونو سره هم د خپلي ژبي یعني فارسي د کتابو سوغاتونه په پټه خوله له ځانه سره راوړي او د مقصد تر ځایه ئې رسولي دي. باید دا په زغرده ومنو چي په دې راز فرهنګي چارو کي نور توکمونه تر پښتنو وړاندي دي او په قومي حرکت کي د ځاني ګټو ډېر زیات خیال نه ساتي او نه هم بې پروا پاته کېږي. پر دوی دې شابس سي خو پر موږ چي هر راز لعنت وایاست حق ئې لري.

نور نو دلته د "تواریش" کلمه له خولو څخه لوېږي او ځای ئې "ګسپدین " نیسي. خلګو پر ډالر باندي داسي ایمان راوړی دئ چي دولت او ملت ئې دواړه د هغه  په مقابل کي هیڅ ایمان نه لري. هغه مقدس حرمت چي نن د ډالر په نصیب دئ ښایي په امریکا او استرالیا کي به ئې هم نه لري. د زاړه سوسیالیزم په تربیه کي پوخ سوی نسل د یو عالم اقتصادي او روحیاتي بحران په لېونیو څپو کي سربداله دئ. هیڅ نه پوهېږي چي څه به کېږي. عام خلک ټول هغو کسانو ته ښکنځل کوي چي د ډیموکراسۍ له پاره دوی ته د کاپیټالیستي جنت درواغجني وعدې ور کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې وړاندې د مسکو د تلویزیون له خبریال سره په مرکه کې د ګرجستان انتخابي رئیس وویل چې کمونیستې ګوند یو جنایتکاره سازمان وو او اوس بیا څو ورځې کېږي چې د کورنۍ جګړې په بهیر کې هغه د خپلو سیاسي مخالفانو له خوا څخه د جمهوري ماڼۍ په غارو کې د کلابندۍ شپې تېروي. دا چې نن کمونیستې سابقې ته په وازه خوله د اکتوبر د انقلابي مرکز په خپرونو کې د کمونیستانو د نوي نسل له خوا ډېر ناوړه ښکنځل کېږي ما ته ئې هغه زړه خاطره را په یاد کړه چې تقریباً اته ویشت کاله وړاندې تېر سوي دي. په هغه وخت کې کمونیستې یوه داسې مقدسه سجیه ګڼله کېدله چې ځوانانو غوښته تر هر څه دمخه په دغه صفت هم د ننه او هم دباندې وپېژندل سي. په کابل کې د بېلابېلو توکمونو نوي زلمیانو غوښته چې په ګډه د کارګري آیدیالوجۍ پر طبقاتي بنا باندې د سیاسي سازمان یو اساس کښېږدي او په دې جریان کې د سر د مشرانو تر منځ ډېره کلکه سیالي روانه وه چې هر یو تر هغه بل دمخه د کمونیستۍ پوخ نوم پر ځان باندې کښېږدي. هیڅ مې له یاده نه وزي چې د انقلابي ځوانانو تر یوې مقدماتي غونډې وروسته میراکبر خیبر ما په لار کې ولیدی او هغه راته وویل چې ټوله شخړه پر دې وه چې نورمحمد تره کی یوازې د دې خبرې سخت ارمانجن وو چې په افغانستان کې د کمونیستۍ ګوند مؤسس وبلل سي او دې هدف ته د رسېدلو په کار کې ئې له هیڅ راز وسیلې یا پلمې څخه ډډه نه کوله.

ما ته چې د کمونیستۍ په ستاینه کې د تېرې زمانې لېوني هوسونه را په یادېدله او اوس مې بیا د شوروي پر ورشو کې د هغې په غندنه کې لېوني مارشونه لیدله نو خپله خندا مې نه سوای ټینګولای. د جریاناتو دغه دواړه شکلونه چې ما د خپل ژوند په یوه او بل وخت کې د سر په سترګو ولیدله نو مې ورته وخندل او هغه پښتو وراشه مې خولې ته راغله چې نه مرو لا به واورو. زه له دې خبرې څخه په هیڅ حالت کې خوله نه سم نیولای چې د حاکمیت په دوران کې هر سازمان په هر نامه چې وي د جنایاتو له ارتکابه څخه ځان نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي ساتلای. همدا وجه ده چي ځيني سياسي مکتبونه د هر راز حکومت يا حاکميت د نفي په خوا کي در ېږي. له دې قبيله جنايات نه په کمونيزم اړه لري او نه هم په ډيموکراسي بلکي د اقتدار او حاکميت د مقام سکني نتايج ګڼل کېږي.

په تېرو وختو کي موږ له علمي پلوه ډيموکراسي او کمونيزم يو د بله سره مقابل نه ګڼله او يوازي د غربي تبليغاتو په سياسي څېړنو کي دغه دوه مفهومونه يا واقعيتونه يو د بله سره متضاد پرتله کېږي. خو اوس د دې تفاوت رعايت بېخي له منځه تللی دئ او دلته د سياسي چوکۍ هر قهرمان غواړي کمونيستي سابقه غندي او روانه حاليه ډيموکراسي وستايي. د خندا وړ خبره خو لا دا ده چي دا نوي ديموکراتان نه له آسمانه راغلي دي او نه هم له مځکي راوتلي دي بلکي زياتره ئې د پروني کمونيزم د ځالې حلالوني يا ارمني بچيان دي. که څوک له دې دوه مخو عناصرو سره کومه علاقه و نه لري نو خورا په آساني له داسي خندوونکو حالاتو څخه دا علمي قانونمندي را ايستلای سي چي لکه څنګه چي د نونسمي پېړۍ ډيموکراسۍ کمونيستي بچوړي زېږول، همدغه شاني بيا د شلمي پېړۍ کمونيزم ډيموکرات بچي زېږولای سي. هغه تضاد چي د دې دوو مقولو تر منځ تصور کېدی اوس د تاريخ په تناسلي وحدت کي خپل ځان ښه څرګندوي. فاعتبروا يا اولی الالباب!

د انساني تحول يا تظاهر هغه آيډيالوجيکي، اقتصادي، اجتماعي او سياسي پديده چي دلته ئې له يوه قطبه څخه بل ته څه دپاسه اويا کاله وخت ونيوی زموږ د هيواد په لسو کالو کي ئې هم خپله بشپړه د ورانۍ لاره ووهله. که څه هم د کمونيزم پر ستر بشري نهضت، خلاقيت او مزيت باندي علم خپلي روڼې سترګي نه سي پټولای خو د غه خبيث ژورناليزم او ناځوانه جاسوسيزم هم په هيڅ دليل باندي معافيت نه سي پيدا کولای. ځکه دا يو ئې د انساني ماغزو د عقل سترګي ړندوي او دا بل ئې بيا د پرګنو ستر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنظیمونه د شخصي دیکتاتوریو د بقاء او پایښت په خدمت کي دروي.

پرون نه وړمه ورځ مي د ختیځ پېژندني په اداره کي د پاخه عمر یو ازبک ولیدی چي پارسي ئې ښه زده وه خو د شناخت او نژدېکت له پاره ئې یو څو پښتو جملې هم زده کړي وې. دی د نوو جریاناتو په مقابل کي پوره ترینګلی وو او داسي ښکارېده چي د کمونیستې ګوند له ړنګېدو سره ئې د منافعو کاسه اوس چپه سوې ده. ده څلور پنځه کاله وړاندي زموږ د ګوندیانو د معلمۍ وظیفه هم د مرکزي کمېټې په ماڼۍ کي تېره کړې ده او له دې واره داره وظیفې څخه ئې خپله پوره اقتصادي تایه هم نیولې وه. په لومړۍ ورځ داسي راته ښکاره سوه چي نور به مي نو له دې صمیمي انډیواله سره خوله پرې وي او کله ناکله به د حوادثو په اړه د منفي شخوند خواله هم سره کوو. په دا بله ورځ چي ئې ما ته د دفتر په خپله کوټه کي شنې چای رادم کړې او زه پر خپلو ایله غرتو باندي راغلم نو که مي کتله په سپینو سترګو ئې د مېز په جابه کي پټ د بږغ د ثبت ماشین راته چالان کړی وو چي زما برغزووي ثبت کړي. دا د ړنګي کمونیستۍ غولدنګ جاسوسان پر موږ باندي د دونه ساده خلګو ګومان کوي چي حتی په دې رډه جاسوسي مو لا هم سد نه رسېږي. په دې چل چي ئې زه له حرکاتو څخه پوه سوم نو ما هم سمدستي د خپلو خبرو لېونی سبک هغه منافقانه طرز ته واړاوه چي زیاتره د چلبازو سیاستمدارانو له خوا څخه د ساسي مرکو یا مصاحبو په جریان کي کار اخیستل کېږي. ما ول مه ښوروه، ایله، ایله به چټیات ورته وایم څو د دې غول ټوله بېټرۍ مصرف سي او له ما څخه هیڅ داسي ټکی وا نه وري چي دی یو څه پر وګټي. له دې ماجرا څخه مي دا نتیجه واخیسته چي نور نو کمونیستي جاسوسان د زمانې په ډاینامیزم کي د پوهي یا زرنګۍ له پلوه ډېر تر شا پاته سوي دي. له دې سره هغه زړه خاطره هم را په یاد سوه چي یو وخت زموږ د ملي روغي جوړي د یو اړخیزه بې ثمره داعیې په باره کي د خاد یو ګوندي جاسوس په خپل جېب کي د ثبت ماشین راته اچولی وو او د لګېدو یا مړ کېدو ټکهاری ئې مخامخ ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپلو غوږو اورېدی. لعنت دئ پر داسي بې شرمه او بې حیا چغلګرانو چي نور ئې نو عقل پښو ته تللی وي او څه هم په لاس نه سي ورتلای. زه باید ډېر وختي لا د هغي وراشې په ګناه دارالبقاء ته لېږل سوی وای چي د شودلیزم پر غټ سرخېل مي د تاریخي احمق نوم ایښی وو او دا خبره د هغه تر غوږه هم خدائي خدمتګارانو ور رسولې وه.

اوس به نو له دې جنجالي بیانه څخه دې نندارې ته راسو چي د سرکاري یا پولیسي ډار له کمېدو سره فقیران هم نر، هم ښځي، هم لویان او هم کوچنیان دانه مانه د تاشکند په ستر ښار کي دلته هلته په ښکاره راوتلي دي او ځانونه ئې ښکاره کړي دي. دوی د مدني بېروبار په لوی شخول کي د اړتیا او خواری عاجزانه سندري په لوړ آواز ږغوي. زه خو وایم چي هر چیري فقر او فقیر وي نو هلته انساني عواطف د ښادی ژوند نه سي کولای. د نوو بدایانو له لېونیو هلو ځلو سره به دغه اجتماعي آفت نور هم خپلو لوړو مدارجو ته ورسېږي. پخوا خو چي موږ سوسیالیزم خوښاوه، وجه ئې دا وه چي ویل به ئې په هغه کي نه فقر سته او نه بېکاري.

ښه، که څه هم د هري ورځي له تېرېدو سره زموږ سیاسي، اجتماعي او اقتصادي فاصله د روسانو له پېوندو څخه لیري کېږي، خو روسي ژبه بیا هم زما په زړو مغزو کي ځای نیسي او تقویه کېږي. په ازبکي ژبه هم خوله وهم. د یو شمېر مجردو کلماتو په حساب څه دپاسه په سل کي شپېته د عربي او فارسي تر تاثیر یا نفوذ لاندي راغلې ده. اما له دې سره ئې د خپل جوړښت او بېلوالي بنیادي اصلیت د ځان له پاره پوره ساتلی دئ. تر اوسه مي د "بېلګي" او "الیش" دوه لغتونه د پښتو او ازبکي په اشتراک کي موندلي دي. د "چي" پسوندی یا وروستاړی لکه د "نندارچي، باورچي، رپوټچي، اخبارچي، غاوچي،سماوارچي، انبارچي" او د ا راز نورو کلمو کي خپور سوی دئ په ازبکي ژبه کي هم ډېر په مخه راځي.

څه به درته وایم چي ما دا وخت د ګرباچف د نونسم کنفرانس بیانیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لوستلو تر نیمایي پورې لا نه ده رسولې چې بیا دا دئ مخامخ ده ته په تلویزیون کې ګورم او د سیاسي مړینې وینا یا استعفاء ئې په خپلو ګناهکارو غوږو اورم. دا د تاریخ یوه عجیبه استعفاء ده چې لوی جهاني مقام ئې د جاودګرۍ د پوف په شان د یوه ګړي له مخه په یوه شېبه کې غایب سو او ده چې سترګې رونې کړې نو ځای نه وو خو جلا سپېره غوږونه په سپېره میدان کې ژړې سترګې ولاړ وو. هغه چې ده بازسازي بلله په واقعي ډول بادسازي سوه او اوس په بشپړه بربادسازي اوښتې ده، ځکه داسې نتائجو ته ئې مخه کړې ده چې دوه درې کاله پخوا ئې هیچا حتی په خپله مؤسس لا هم تش تصور نه سوای کولای. اوس هغه پر غرندو سپور ګرباچف په مرورو شونډانو او په تریو تندي د پېښو د جریان استقبال کوي. د سیاست له آزادۍ سره د قیمت آزادي او د قیمت له آزادۍ سره د ملکیت آزادي او د ملکیت له آزادۍ سره د جنایت آزادي او له دې ټولو آزادیو سره یو ځای د لوی اکثریت له پاره د ډېر سخت مشقت آزادي سوه. تر دې ازادیو پورې ما ته د تېرو کلو یوه زړه خاطره را په یاد سوه. یو وخت بېنوا صاحب د لیکوالو کتاب جوړاوه او په دې لړ کې ئې ما ته هم کښلي وه چې زه خپله معرفي ده ته ورولېږم. ما هغه وخت یو څه ورته وکښه. خو د خپل بیان په ترڅ کې مې دا خبره هم ورته کښلې وه چې په ژوند کې لومړۍ ازادي هغه ده چې له مور و پلاره څخه واخیستله سي. بېنوا که څه هم په خپل فرمایش کې ډاډ راکړی وو چې د چا په بیان کې به تصرف نه کوي. اما دغه خبره چې زما د ټولې لیکنې جوهر ئې تشکیلاوه زما له لیکنې څخه ئې غورځولې وه او البته د سیاسي یا اجتماعي سانسور په مقیاس ئې نامناسبه ګڼلې وه. زه په رشتیا هم هغه مهال چې د آزادۍ په موضوع باندې فکر کوم نو نه پوهېږم چې دا باید د عمر په کومه مرحله کې راشروع کېږي. ځکه مور و پلار، ټولنه، سیاست، دین، مذهب، او کلتور موږ سر تر نوکه دننه او دباندې تر خپل جبر لاندې په خپل رنګ ورنګوي او بیا نو راته وایي چې ورځه اوس آزاد یې! هغه آزادي چې پلار او مور ئې وټکوي، عرف

(c) ketabton.com: The Digital Library



او عادت ئې له ژوندە واچوي، ټولنه ئې په کلونو کلونو په بند کې وساتي، دين او مذهب ئې لاندي باندي وکوټي او سياستونه خپلي لوبي په وکړي، بيا نو دا رباب ورته وهل کېږي چي هر څوک د آزاد فکر او عمل حق لري خو په دې شرط چي د قانون مراعات به کوي. دغه دئ د اجتماعي ژوند ريشخندي منطق!

بيرته به ګرباچف ته راسو. ده بېچاره هر شی پر مجرد عقل او تشو وراشو باندي رابنا کاوه، خو خوارکی په دې نه پوهېدی چي تاريخ د منفعت له خوا اداره کېږي نه د عقلانيت له خوا. ځکه نو دی له خپله عقله سره د منفعت څپې وواهه او تر خپل سياسي مرګ وروسته چا د قهرمان په څېر وستايه او چا بيا د بشري ارمانو په وړاندي د خائن په توګه وغانده. خو هغه وران شوروي چي ده تر شا پرېښووی نېخه چي څونه به لا د سقوط نوري سرلاټې هم وخوري.

د شوروي د استرونومۍ يا نجوم پوهني په برکت چي د لومړي ځل له پاره د آسمانو خوا ته لاره پرانيستله سوه اوس له بده مرغه خپل فالونه د زړې استرولوجۍ يا زړو نجومو په خرائطو کي لټوي او د توري بيزو د نوي کال حوادث د تلويزيون په عام محضر کي له زاړه نجومګره څخه پوښتل کېږي. دا نو تاسي وواياست چي دغه اوس پرمختلنه ده او که تر شا راتلنه.

ډېر وخت کېږي چي د تاشکند او يا ازبکستان په باره کي ځيني عمومي معلومات لاس ته راوړم، او په خپلو يادانښتو کي ئې ليکم. خو د هغې بدنظمۍ له برکته چي د سياسي حرکت په نتيجه کي هر چيري روانه ده زه په ټپه بيکاري کي لا هم د سر و ګرولو ته نه فارغه کېږم. سهار چي پر اته بجې راکښېنم نو په چايو پسي راووزم. تر هغه وروسته بيرته کوټې ته راځم او يو ګړی تلويزيون ګورم. بيا نو پر لس بجې د ډوډۍ په تلاښ په يوه او بل ځای کي بوی کاږم. په مټې تر دوو يا درو بجو پوري له دې تلاښه څخه فارغه سم او دمخه تر دې چي ورځ راباندي تياره سي په بېړه تر کوټې پوري ځان راورسوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د خوب تر مهاله په یوه او بله مشغولا وخت تېروم. زیاتره د سعدي صاحب په اقتفاء داسي یو بیت زمزمه کوم:

عـمر گرانمایه درین صرف شـد
تا چه خورم شام چه نوشم سحر

ما چي له پخوانیو څخه عبرت نه دئ اخیستی نو ځکه د رخصتیو په ورځو کي د خوړو له بابته ډېر سرگردانه کېږم. کشکي نس او یا د ده هوس هم د توقف رخصتي په رسمیت پېژندلای او موږ ته ئې د خوړو له تکلیفه څخه معافیت راکولای. عجب منطق دئ چي د خوړو ځایونه د رخصتۍ په ورځ د (زیکریت) تر عطالت لاندي په موږ روژه نیسي.

د نوي کال له پیله سره چي زیاتره قیمتونه په جوتکو وغورځېده نو د تېر کال سهولتونه ئې هم له منځه ورسره یووړه. پخوا چي د "پراوادا" اخبار د دنیا د لغړیانو د یووالي شعار ورکاوه نو یوه گڼه ئې په پنځه کوپیکه وه. خو د امریکا سره په نوې دوستي کي چي طبقاتي آیډیالوجي د مړه سگریت په شاني له خولې څخه واچوله سوه نو د دې پرولتاري اخبار بیه دېرش کوپیکه ته جگه سوه. د نوي کال په اقتصادي ریفورم کي دغه بې طبقې سرکاري پاڼه اتیا کوپیکه ته وخته. هر څه باید د مرچو له قراره وگڼل سي.

زموږ د اکاډیمۍ یو رسمي هیئت چي د ازبکستان په شانداره هوټل کي اړولي وه نو کله چي هلته په نوي کال کي د یوې شپې د تېر بیه پنځه نیم سوه روبلو ته جگه سوه، په یوه تراټ ئې کډه ځني رابار کړه او دلته ئې د لابزک ارزانه هوټل ته پناه راوړه.

د تاریخ د سیاسي، اجتماعي او اقتصادي جریاناتو بهیرونه یا بحرانونه خو دلته په یوه یا بل ډول گرماگرم چالان دي او په داسي بېړه پېښېږي یو په بل پسې بدلېږي چي پرون ئې له نن سره او نن ئې له سبا سره نه پرتله کېږي. همدا اوس گړی بیا دا دئ په خبرونو کي اورم چي د گرجستان کلابند رئیس جمهور د خپل حاکمیت له ماڼۍ څخه وتښتېدی او باندي ویل کېږي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووه سوه مليونه روبله ئې هم د ملت له تشېدونکي خزانې څخه تروښوولي دي. له حکومت څخه چي د دغسي تروښوونو چانسونه حذف سي نور نو: کلاه دلکش است اما به درد سر نمی ارزد. يوازي د داړې همدغه چانسونه دي چي نن په سپينو سترګو هر چيري د هغو پر صوبدارۍ باندي د ملت په نامه د باټو ډکي سندري ويلي کېږي. د دې تښتېدلي جمهور رئيس د بقاء له پاره په سلهاوو کسان مړه يا ټپيان سوه خو د وير او وراني غمونه ئې د هغو خپلو کورونو او خپلوانو ته ورپاته سوه. ځکه مځکه هغه سوځي چي اور پر بل وي.

تاسي به نو واياست چي زه ولي پر هغو انتخاباتو باندي نه يم رغېدلی چي په ازبکستان کي د ډيسمبر پر ۲۹مه د جمهوري رياست له پاره سر ته ورسېده. بايد رشتيا حقيقت درته ووايم چي زه د خپلو لېونيو اصولو له مخي هغه څه انتخابات نه سم بللای چي ما غوندي ساده چادي په وختي کي لا په دې پوهېږي چي څوک ئې ګټي. ځرنګه چي دلته په همدې مناسبت يو څو د ټوکرانو شعارونه شاوخوا وځړېده خو نور نو د تېرو ورځو په شان سړه سنا وه او هيڅ بيروبار چيري نه ليده کېدی. دغه عادي سوړ حالت په خپله پر دې دلالت کاوه چي باز د چا پر سر کښېني. که په ما انتخابات منې نو به مناقشې، مباحثې، مظاهرې، مبارزې او د ټوله اولس چپه و راسته مقابلې په ما باندي وينې نو بيا ويلای سم چي ولا بې له شکه انتخابات وه.

له دې ناکاره غرتو يا بېکاره ډرتو څخه چي راتېر سو نو خبره دا ده چي د تاشکند د تلويزيون په يوه کانال کي هندي فلمونه ښکاره کوي چي په روسي ژبه دوبله سوي وي. زه دغه د ترجمې په روسي تر اصلي روسي ډېر ښه پوهېږم. ښايي دا به د هندي فلم د کلتوري شناخت تاثير وبولی. ځکه ژبه د اجتماعي روابطو کلتوري اړخ هم انعکاسوي.

داسي اوربدل کېږي چي په دې ورځو کي ځيني کسان دلته د اوسېدني له پاره پاخه اړوي او له راتګه سره سم ئې تر خولې راوزي چي بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خداداد مملکت ته د غبرګېدو خیال نه لري. حتی یو سړی چي د طیارې دوطرفه ټکټ ئې هم اخیستی وو هغه ئې په پنځه زره روبله زموږ د اکاډیمۍ پر یو همکار باندي وپلوری او له بیانه سره سم ئې په تاشکند کي د عمر له پاره واړوله. یو شمېر تکړه کسان چي البته د ځینو روابطو په غبنتلې حمایه کي راغلي دي له خپلو اولادو سره ئې دلته درانه اړولي دي او په یوه یا بل نامه ډاډه ژوند تېروي.

د شناخته خېلو د خولې خبره ده چي ځیني سوداګر مآبه دلته د خورا لوړي سوېې د ژوند پر خوندورو چړچو اوښتي دي او د عیش و نوش په مزه داره ښاديو کي ډوب دي.

لکه څنګه چي په بدني تماس کي امراض انتقالېږي دغه رنګه بیا په اجتماعي تماس کي د سړي معلوماتي ذخیره زیاتوب کوي. د "امالي" ملا صاحب چي څو پېړۍ پخوا د خلګو له ملاقاتو څخه سرغاړی سوی وو نو ئې په خپل منظوم عربي کلام کي داسي مضمون موږ ته په میراث پرېښوی، چي:

لقاء الخلق لیس یفـــید شئ
سوی الهزیان من قیل و قال
بله ګــټه چـــا ته نه لـــري د خلــګو ملاقات
بې له دې چي ځني واوري برغزووي چټیات

دا قیل و قال یا ایله برغزووي که څه هم هر څونه چټي وي خو چا ته چي خدای په خپله مهرباني لویه سینه ورکړې وي نو د ټولني زیات ناویلي نالیدلي پټ اسرار په دې زمینه کي موندلای سي. برایي یو څو شېبې د وطني انډیوالانو پر صحبت واوښتم او د نالیدلو جریاناتو په باب مي دونه واقعي معالومات له دوی څخه واورېده چي په یوازي سر په انفرادي توګه د ډېر ثروت او قوت په مصرف کېدو سر لا هم د چا لاس ته نه سي راتلای. دوی وویل دغه د ازبکستان د اکاډیمۍ هوټل چي موږ پکښي اړولي دي د ماښام له

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو بجو څخه بیا د سهار تر څو بجو پوري د رنډۍ خانې او چکلې سره پوره مسابقه کولای سي. د یوې نوکریوالي نوم ئې واخیستی چې هغه د پیوندکارۍ په دې معاملاتو کې ډېر اساس نقش لري. له دغه نامه سره زموږ د ځینو علماوو د شناخت سابقه هم لا په پخوا کې څرګنده سوې وه.

یو څو کسه ځوان افغاني سپورټ مینان چې د پلار ګټلې خورا بې دریغه مصرفوي او ملکیتونه ئې په وطن کې د خوارانو اولادونه د مقدس عسکري چوپړ په نامه ورساتي، دلته په دې هوټل کې په ګونګه ژبه د خپلې مستي عیاشۍ په چارو لګیا دي. دا قصې چې مې واورېدې نو په دې ورسېدم چې بیا هم زه جاهل، غافل او بې خبره انسان چې نه په مالي چارو کې او نه په جنسي چارو کې کومه نمره لرم خو د تاشکند په محسوس او مشهود جنت کې د دې پر ځای چې د مستو لېونیو میندیانو سره سیال سم، د جهان آفرین د تواضع له کبله مې د هیز شوم حرمان په برخه سوی دئ. د بیان د پوره کېدو دپاره باید دا ټکی هم ووایم چې څو ورځې پخوا زه د هوټل د هغه تش او تور کانتین ته ورغلم چې ګوندي د خوراک له پاره به یو څه ولري. هلته یو بیداره رېنوکی هلک چې اتلس کلن معلومېدی تر هر څه دمخه ئې ما ته بې له کومې کنایې یا پردې څخه روک په رډه داسې وویله چې ښځې ته ضرورت نه لرې؟ ما د ده پر خبره ځان کوڼ واچاوه. ځکه ما ول که اوس زه د مسخرو په نیت خپل چمتووالی ورته څرګند کړم نو نه چې سمدستي د رشتیا په میدان کې ټپي رسوایي ته راووزم او له دې معاملې څخه د تبصرو لویه غږکه جوړه سي. څوارلسم نمبر پولي کلینیک زه خوارکی د صحي معایناتو له پاره جلب کړی وم خو هغه په دې واقعیت ځان نه پوهوي چې دلته تر سترګو لاندي په ښکاره د سفلیس او "سپید" یعني "ایډز" لاندي باندي کارخانې چالاني دي. ښې ویلي دي چې معامله څوک کوي او سوکان څوک خوري. دا ده د قانون هغه بنیادي رسوایي چې دانشمندان ئې د کلماتو او الفاظو پر ترکیب باندي غاړې سره شنې کوي خو په عمل کې له واقعیتونو څخه نېغ په نېغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېګانه کېږي.

تاسي به نو واياست چي د صحي معايناتو نتيجه دي کوم ځای ته ورسوله. زه خو يو ځو ورځي پرله پسې ورغلم. يوه ورځ به ډاکټره نه وه، بله ورځ به ئې ويل چي د ويني معاينات په يو بل لابراتوار کي تر سره کېږي. بالآخره نو زه له غوښتني او پوښتني څخه پر يوه مخ تېر سوم. ما ول که ئې چيري بله پلا بيا جلب کړم نو به ورته ووايم چي په پلاني تاريخ حاضر سوی وم او معاينات مي ستاسي سره پاته دي.

څو هفتې پخوا چي ما ته په هوټل کي دوې غټې کوټې را ايله وې نو هر ګړی مي تر داسي تهديد لاندي د ځان احساس کاوه چي ښايي يو بل څوک به په جوال کي راسره واچوي. خو څه وخت چي زما و څنګ ته يو نفري کوټه خالي سوه او چټک ورته راکډه سوم نو له داسي ګواښه څخه مي ځان په امان وباله. اما د شرقي کلتوره سره سم چي په يوه نفري کوټه کي هم دوه کسه اوسېدای سي او د هوټل ماموران زياتره د يوه په حساب له دوو کسانو څخه دوه چنده پيسې اخيستای سي نو ځکه زما اوږده اوسېدنه د دوی له داسي ګټې سره نېغ په نېغه تضاد لري. په دې نوې کوټه کي مي لا څو هفتې نه دي تېري کړي چي ماموراني زما تر غوږ دا خبره راتېروي چي ته تر کله دلته پاتېږې. برابي د شپې پر لس نيمي بجې چي زه په خپلو ګاټه چورتونو کي غوټه وم، په خورا دربې او خرپې بې ډوله دروازه راوټکېده او نوکريوالي انا په مړ ژواندي آواز راته وويله چي ادمنتسراتري يعني مديري يا منتظمي امر کړی دئ چي ته به يوې بلي کوټې ته کډه سې. چټه مي ورته واوښته او په جواب کي مي ورغبرګه کړه چي ستاسي امرونه زه نه منم. تاسي زما په باره کي د خپلي اکاډيمۍ له مقاماتو سره خبري وکړئ. دغسي آزارونه او ځوروني چي سرې ته پرله پسې تکرار سي نو د کور غمونه د سړي له ياده څخه وباسي او غواړي د راکټ په شان په ببړه تر خپله کورني دوږخه پوري ځان ورسوي.

دا دئ په سهار کي بيا دوې نوري ښځي راغلې او راته وئې ويله چي دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی آمر فیصله ده چي ته یوې بلي کوټې ته ولاړ سې. ما ول د هر چا فیصله چي ده خو زه د اکاډیمۍ مېلمه یم. اکاډیمي که ما شړي نو حاضر یم چي حتی همدا شپېه له ازبکستان څخه ووزم. په دې ترڅ کي مي ورته څرګنده کړه چي ما خو د ازبکانو مېلمه پالنه اورېدلې وه مګر اوس ګورم چي د مېلمه ډېر ښه درناوی کېږي او یو ګړی ئې هم پر آرامه نه پرېږدي. په آخر کي ئې دا خبره وکړه چي نو لوی امر به په خپله درته راسي ځکه په حقیقت کي هغه غواړي چي همدا کوټه د خپل یو آشنای له پاره خالي کړي. زما په خیال د مېلمه پالني په باټو مي د دوی د زړه کومي ته نرۍ لاره وکړه او د تند استدلال په پای کي ئې په نرمه لهجه د مهربانۍ په ډول د ډاډ پر چم راته وویله چي بې غمه استراحت وکړه.

ارمان، ارمان، ارمان په ایمان چي په روسي ژبه مي ښه ډېر ښکنځل زده وای او په یوه پلا مي خپل ډک زړه وربانديتش کړی وای. د یوې ژبي له زدکړي سره دا هم په کارېږي چي د هغې ښکنځل باید زده سي. ډېر ښه پوهېږم چي زه په اصل کي د دوی د عیاشۍ له کړۍ څخه ګوښي پاته سوی یم او نو ځکه زما استثنایي غوندي ګوښه توب د دوی هر یوه ته د حیرانۍ سبب ګرزېدلی دئ. که زه له دوی سره غورځېدای او خرڅونه مي ورته کولای، سات مي ورسره تېرولای نو بیا داسي خبري نه پېښېدې.

پخوا زمانه چي اولسونه یو له بله څخه ګوښه اوسېدله نو لباسونه، دودونه او د ژوند طرزونه ئې ټوله د نابلده سیلانیانو یا د سفرنامو د لیکوالانو له پاره د یادوني او یا د لیکني وړ ګرزېدله. پر قصو او نکلو به ئې هم نورو خلګو خوند اخسیتی. خو اوس چي کلتوري توپیرونه د جهاني تمدن د وسائلو او روابطو په جاروتلو شبکو کي ډېر پیکه سوي دي نو له دې پلوه هیچري چنداني عجائبات سړي ته په مخه نه ورځي او که ورهم سي نو بیا د ډېري علاقې وړ نه ګرزي چي بیان ئې په قصه وارزي. په هر حال چي دغه دود پر یوه مخ پاته نه سي نو دونه به ووایم چي ازبکاني نجوني کله یو او بل په لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي سره مخامخ سي نو د روغبړ په حال کي يو د بل چپه تشي ته خپل راسته لاس وروړي. بل دا چي د ډوډۍ تر خوړلو وروسته لوی او کوچنی پر مخ باندي د دوعا په شان لاس تېروي. دا به لا هم درته ووايم چي ازبکان له اروپايي دريشۍ سره هغه چارکنجه خولۍ پر سروي چي ښايي تاجکان به ئې د ځان له کمالاتو څخه بولي. که د دې خولۍ پر کلتور باندي د دوی تر منځ شخړه راپورته سوه چي هر چا د ځان بلله نو به د ملا نصرالدين د خره معامله ځني جوړه سي چي د ايرانيانو او ترکانو تر منځ ښه ډېر وخت د مناقشې موضوع وه او ايرانيانو په خپله ګټه داسي فيصله صادره کړه چي ملا نصرالدين په موږ اړه لري خو خر ئې په ترکانو پوري.

نن د جنورۍ پر شپاړسمه د خوړو نرخ يو دم د پرون په تناسب درې چنده لوړ وختی. ځيني کسان د دغه مشکل چاره په دې سره کوي چي غواړي د پرون په تناسب خپل خواړه نيم وخوري. د نرخونو له جګېدو سره د خوارانو سوي کړړي ختلي دي. په زياته بيا هغه زوړ اويا کلن نسل چي بېخي ګيج دئ چي د کمونيزم له پلان سوي تبليغاتو سره ئې داسي تصور کاوه چي د خپل عمر په دې وخت کي به ئې د ژوند لومړنی اړتياوي ټوله وړيا وي او د خير پر غونډۍ به په پوره زړه د ډاډمني آيندې په باور هيڅ اندېښنه نه لري. اوس د ټولو شيانو ځای وحشت نيولی دئ او پوخ باور په ډاډه ناباورۍ اوښتی دئ. هر چيري دغه بيان دئ او يو و بل ته سره وايي چي څه به کوو. د يوې نامعلومي وارخطايي سره مخامخ دي.

اوريده کېږي چي په همدې تاريخ د محصلانو په يوه مظاهره کي دوه ځوانان ووژل سوه او اوس دوې ورځي وروسته خبره داسي ځای ته رسېدلې ده چي جمهوري رياست د خلکو له پاره يوه لويه نصيحت نامه خپره کړې ده. د هغې له څرګندونو څخه ښکاري چي د دې پېښي اور ته سياسي پيک وهل کېږي او مخالفان د خلکو له هيجانه څخه د ځان په ګټه استفاده کوي. نن د جنورۍ پر نونسمه د يوې لويي جامع په مخ کي د نرو او ښځو خورا غټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قطارونه ما په خپله وليدله چي البته د ځوانيمرګو زلميانو په فاتحه کي ئې سياسي اشتراک کاوه. اوس دا دئ د ماښام په خبرو کي معلومه سوه چي يوه لويه رسمي غونډه د همدې واقعې په مناسبت جوړه سوې وه.

بايد وويل سي چي د دې واقعې خبر زموږ د هيواد د سيانه يا عاقلانه ژورناليزم په سبک لومړی له مسکو څخه خپور سو او بيا نو موږ وپوهېدو چي دلته په ازبکستان کي څه پېښه ده. د بې بنياده واکداريو يا واکمنيو له پاره دا د پټي خولې ډېر ښه ميتود دئ چي خلګ ئې د خپل کور خبرونه تر زړېدو وروسته له خارجي آژانسو څخه اوري. ځکه نو څوک ملامت نه بلل کېږي چي بايد له ګاونډي څخه وپوښتي چي زموږ کره څه پېښه ده.

نن چي د نوي کال د لومړۍ مياشتي نونسمه ده نو که څه هم په کابل کي د ژمي د ټاپي منځ دئ خو دلته هوا د پسرلي خوند کوي. په کوټه کي مرکزګرمي د ژمي په سويه چالان ده او سړی مجبوره کېږي چي د هغې بې ضرورته تودوخه د کړکۍ له لاري وباسي. خو د کلکين خلاصېده بيا دا خطر لري چي د مچانو او غماشو ګڼ سيلونه ستاسي کره مېلمانه سي. برايي شپه مي ټوله تر الائي سهاره د غماشو تر ګوانښ لاندي په ويښو ستر ګو تېره کړه.

دا هم عجيب تمدن دئ. کلکين ستړه، جالۍ نه لري. ځکه وايي چي رواج نه ده. مرکز ګرمي همدارنګه کنټرولي درجه نه لري چي د هوا د تغير په صورت کي ئې تودوخه لږ يا ډېره سي. هر څه له ثابت سوسياليستي پلانه سره سم نامتغير جوړ سوي دي. ما ته د رحمان بابا هغه بيت را په يادوي چي:

هيڅ تغير او تبديل نه لري رحمانه
تل تر تله برقـــــرار دئ رب زمـــا

نور نو ټولي خبري د مرچو له قراره اټکل کېداى سي.

د نرخو له جګېدو او لوړېدو سره په ترانسپورټي وسايلو کي کرايه هم دوچنده يا څوچنده پورته وختله. د چلوونکو د نظارت او مراقبت بې عقلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د فضیحت لوري ته زورونه وهي. دا کاږه بارونه خیال نه کېږي چي تر مزله به سم ورسېږي.

خاص د خندا او د ټوکو وخت دئ. لوی شوروي وندۍ سوی. میراث خواره ئې پر پاته مړو باندي نه سره جوړېږي. یوه میراثخور پر خپله کوټۍ د سپیني ماڼۍ نوم ایښی دئ او غواړي تش د سپین په نامه ئې د امریکا د سپیني ماڼۍ سوېې ته ورسوي. معلومېږي چي عقل هم له سره څخه پښو ته کوچ کړی دئ او شرم بېخي د ژوند له سترګو څخه تښتېدلی دئ. هغه بله ورځ د نرخونو د سیاست په حقانیت کي یو ژورنالیسټ وایي چي یالتسین امریکائي سلاکار لري یعني ځکه نو دغه نوي اقتصادي تدابیر د کاپیټالیستي علم له یو تضمین سوي دماغه څخه راوتلي دي. که د چا سره د خورا لږ پوهي یو اثر هم وي نو په دې ټکي ئې پوره سد رسېږي چي له سوسیالیستي اقتصاده څخه سرمایه داري اقتصاد ته اوښتنه بېخي یوه نوې پدیده ده چي امریکائي عالم هم په دې باره کي د شوروي عالم په څېر پوره جاهل ګڼل کېدای سي. سلاګوی یا سلاکار خو فقط د نرخ پدیده ګوري او هغه هم د هغو شرایطو له فرضېدو سره چي ده ته د کاپیټالیزم په زمینه کي معلوم وي. خو دلته چي سر پر سر اویا کاله یو نوی سیسټم چلېدلی دئ او د تولید له افزارو څخه بیا د تولید تر اجتماعي روابطو پوري ئې د ژوند په ګردو ساحو کي ژور نفوذ کړی دئ نو دا اقتصادي زمینه ډېره مغلقه او خورا پرله پېچلې ده. نرخ یوه پدیده ده چي له هغو سره د ملکیت طرز، د مبادلې نوعیت، د محصولاتو کثرت یا قلت، د پیسو تضمین سوی حالت او سیاسي ثبات پوره هم آهنګي و نه لري نو په یوازي سر د دې عامل نه سي کېدای چي د تولید ټوله پروسه سر تر پایه د رقابت په زمینه کي اداره کړي. دا خبري خو ټوله په داسي حالت کي د منطقي استدلال ځای نیولای سي چي چا له دې نوي دیموکرات روسي ژورنالیسټ سره د ده هغه څرګندونه پوره منلې وي چي د یالتسین سلاکار د اقتصاد امریکایي عالم دئ او هغه ته د نوي اقتصاد علمي لاري او چاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



وربښيي. خو که ژورنالیسټ ته وویل سي چي دا به د اقتصادي عالم په نامه راغلی د استخباراتو یو تکړه کارمند وي او غواړي به د کرملین په مرکز کي ستاسي د ژوند ټوله بنیادونه له ریښې څخه وران او ویجاړه کړي، نو ښایي چي لږ به ئې په خپله خبره سد ورسېږي. خو که ئې له دې سره پر خپله تبصره ټینګار کاوه نو بیا سړی دا حق لري چي دی هم د هغه د پروژې یو همکار وبولي.

نور نو لکه څنګه چي چپه چرلنډی یا خرلوډګلی د اقتصادي بحران په حوادثو کي ځان راښکاره کوي دغه رنګه جوي اوضاع د انډوخر په بهیر کي داسي لوړي غورځېدني او ځوړي راپرزېدني په موږ ویني چي نن بیا د جنوري پر پنځویشتمه د حرارت درجه تر صفر لاندي راولوېده او د ژمي له دوباره بابېړي سره باران یو دم په واوره بدل سو.

ما خو څو ورځي په خپلو ړندو سترګو یو څو کتابونه پرله واړول، راواړول. خو د ځینو چي توري ډېر میده وه نو د لوستلو پر مهال ئې زیات تکلیف راکاوه. که څه هم زه خو په دې خوښ یم چي سترګي مي پر دغه کمزوري حال پاته سي او د ډاکټرانو منت یو نه سم. لاکن له دې څخه هم په زړه کي تراه رالوېږي چي مبادا ښورانده دماغ مي همدغسي په کوټي کي فعال پاته سي خو د هغه د لیدو کړکۍ وتړلي سي او د عذاب درجه مي له زغملو څخه ووزي. بالآخره مي دې عاجزۍ ته ځان اړ وباله چي پولي کلینیک ته ورسم او د سترګو له ډاکټره سره سلا وکړم. سترګي ئې راوکتلې او راته وئې ویله چي عملیات غواړي. کومي نوري عینکي او یو څه دوا چي ئې راته ولیکله هغه په ټوله تاشکند کي هیچري نه وه، خو ډاکټر د نسخې د لیکلو خپله وظیفه اجراء کړه او نور ئې نو د پیدا کېدو چاري له هغه سره اړه نه درلوده. زړه مي ومنله چي له وچه ناکامه باید عملیاتو ته ځان وروسپارم. د دې کار له پاره نو ضروري دا وه چي لومړی د پولي کلینیک نظریه تر لاسه کړم او هغه بیا د روغتیا د وزارت له لاري د کومي شفاخانې په نامه د اجراآتو له پاره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جريان کي واچوله سي. نظريه مي واخيسته او مهرباني روسۍ ليوډميلا د دوو هفتو په ترڅ کي لازم کاغذونه او امرونه د شفاخانې تر حده ورسوله. د سترګو شفاخانې ته دې مېلمه پالي زه بوتلم او هلته ازبکاني ښځي ډاکټراني وې چي زما سترګي ئې وکتلې. ناروغان ډېر هلته ښکارېدله او د مراجعې تالار هم ډک معلومېدی. په سترګو کي ئې څاڅکي راوکړه او د دوی له هدايته سره سم مي د بېزو په څېر د سترګو د رپولو يا خلاصولو او پټولو څو تمرينه اجراء کړه. په آخر کي ئې راته وويله چي د عملياتو له پاره بايد بله هفته پروفيسر ته ښکاره سي. دا هفته هم راورسېده او تر شپږ ساعته انتظار وروسته د ازبک پروفيسر د کتني وار هم راورسېدی. هغه بيا پر بله شفاخانه باندي د خپل هدايت يو څو ليکي وکښې او تر څو ګرزېدونو، راګرزېدونو وروسته په دې شفاخانه کي د پنځه ويشت روبلو په بيه يوه لنډه معاينه وسوه چي صرف دوې دقيقې وخت ئې ونيوی. مېلمه پالي راته څرګنده کړه چي بله هفته به بيا دغه معاينه بيرته ورو‌ړو. خو بله هفته تېره سوه او مېلمه پاله رانغله. اوس له هغه تاريخه څخه څلور نوري هفتې تېري سوې چي مېلمه پانه نه راباندي راګرزي او حتی معاش ئې هم نه دئ راته راوړی. ليوډميلا چي زوړسواندې نجلۍ وه زياتره چي به راغله غمجنه به ښکارېدله. د دې خوابدۍ علت دا وو چي زموږ افغاني مېلمنو په اړه ئې د ازبکستان د اکاډيمۍ د منسوبينو بده رويه ليدله او هغه ئې په زړه کي ساتله او موږ ته ئې نه ويله. موږ ته پرته له دې مېلمه پالي څخه بل څوک نه راتله او نه ئې هم موږ ته بلنه راکوله چي له نژدې څخه د هغو ښکنځل او بد ويل مخامخ په خپله واورو. ځکه نو دې زړه خوړی او دا اندېښنه ورته پيدا کېده چي دا غمېدلي مېلمانه له دې څخه ماېجن نه سي. دا حدس پر ځای وو چي ښايي سبا يا بل سبا به مو د لم غوټه ايستلو يا شړلو له پاره په رډه راته ووايي چي نور نو ستاسي د اوسېدني قسمت دلته پای ته رسېدلی. موږ په دې پوهېدو خو ځان مو نه په پوهاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پيري سترويکه له برکته دولتي غلو د بيت المال پر هيڅ شي باندي لب نه کاوه او هر څه چي په لاس ورتله هغه ئې نه مانجه کوله. په دې خبر سوم چي زموږ د هوټل له مدير څخه زموږ يوه عالم د منقالو تاوې رانيولي چي البته دولتي وې. يوه بل يوه بيا په پولي کلينيک کي د دولت طبي سامانونه له ډاکټرانو وپيرودله.

زما په شاوخوا کي چي دغه څو اړخيزه بحرانونه ليري او نژدې راباندي راڅرخي نو زه هم ورځ په ورځ سربداله کېږم او د پرله پسې يادابنتونو له اخيستلو څخه لوېږم. که چيري تاسي د دې يادابنتونو په ترکيب کي ترتيب و نه وينی نو ټوله پړه ئې زما پر چاپېريال باندي واچوئ او د هغه په منځ کي زما بېکسي او مفلسي هم له ياده مه باسئ. خو چي تاسي بېخي پر يوه مخ بې مضمونه نه سی نو دا دئ يو څو ليکي به لا نوري هم درته وکاږم.

زما خوږو يارانو! پر دې خبره مي هم د زړه غوږ ونيسئ چي د لګي – درګي يا اړو –دوړ په خرلوډګلي کي سړی هرومرو دې ته اړېږي چي بايد د خولې د پرېکړي له پاره پر مزاج برابر او په ژبه پوه يو شناخته ولري چي وخت ناوخته له هغه سره د زړه کوخ وکاږي. په دغه نيت چي زه د ختيځ پېژندني په يوه او بله کوټه کي په دغسي يو انډيوال پسي ګرزېدم نو د خدای له داده د مړو له ياده پر پاخه ځوان ازبک حبيب الله کرامتوف باندي پېښ سوم چي فارسي ژبه ئې تر يو فارسي زبانه لا هم ښه زده وه. دی چي د اجتماعي او سياسي مسايلو په تحليل کي هم د اهليت او کرامت خاوند وو يو زمانه ئې د شوروي د سفارت د يو کارمند په توګه په ايران کي څو کلونه تېر کړي وه. په دې اوسو ورځو کي چي دلته اخبارونه د ازبکي ژبي د رسم الخط موضوع پرله اړوي را اړوي نو زموږ د مجلس مرکه هم دې ټکي ته راوګرزېده. زه په خپل ازاد سبک چي چنداني د سياسي کشالو خيال نه ساتم، په دې باب مي خپله رايه ده ته څرګنده کړه. هغه دلچسپي پکښي واخيسته او له ما څخه ئې وغوښتله چي زه خپلي خبري د يوې مقالې په چوکاټ کي د ده له پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربښته کړم. کوټې ته راغلم او څه بيانونه چي ما ته د دې موضوع په باب له علمي دريځه په زړه کي راګرزېدله هغه مي د يوې فارسي مقالې په بڼه د کرامتوف له پاره داسي ترتيب کړه:

از نگاه یک رهگذر

شنیده می شود که در بین اقشار مختلف روشنفکران جمهوری ازبکستان مسئله رسم الخط زبان ازبکی مطرح است و راجع به آن اظهارات گوناگونی صورت میگیرد. باید پیش از همه اذعان کرد که هنگام قرار گرفتن در نقطۀ چندین راهه تنها انتخاب درست نتائج سودمندی ببار آورده می تواند. ولی در چنین نقطۀ حاد که انگیزه های مختلف زندگی پی در پی بر آن تاثیراتی وارد می کند امکانات انتخاب نادرست و یا اشتباهات ناگوار نیز متصور است. برای اینکه حتی المقدور از ارتکاب اشتباه آمیز جلوگیری به عمل آید لازم است مسئله همیشه طوری مورد دقت قرار بگیرد، که از هیجانات سیاسی کاملاً پاک و منزه باشد.

چرا عاقل کند کاری که باز آرد پشیمانی

شکی نیست که اقوام گوناگون ملت جمهوری ازبکستان اکنون در مرحله رشد ملی قرار گرفته و پیوسته در ساحات مختلفه زندگی به طور مستقل اداره امورخویش بدست می گیرند. درینجا سوالی بمیان می آید که آیا باختم تسلط سیاسی و اقتصادی دیروز باید کلیه نهاد های آن از بیخ و بن نیز برداشته شود؟ احساسات ملی و هیجانات قومی که به اساس خاطرۀ انعکاس شرطی در مرحله جریان نهضت های آزادی بخش تشکل می یابد چنین قضاوتی را مستدل و معقول می پندارد. ولی تجربه های جهانی نشان میدهد که احیاناً در چنین احوال و اوضاع خیلی از ارزشهای حیاتی بدون ضرورت نیز متنفی می گردد. بناءً وظیفه اقشار دانا و خبر است که با وسعت نظر بر مبنای واقعیت های عینی منافع مردم همیشه خوب و بد به مقیاس علمی از هم جدا ساخته و فلسفه "خذ ما صفی دع ما کدر" ملاک عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



خویش قرار بدهند.

بنابراین رسم الخط موجود زبان ازبکی که قسمت اعظم آن به اساس حروف روسی ترتیب و ترویج شده است دارای ارزشهای فرهنگی زیاد است که نباید بدون تامل هر چه زودتر بدلائل این و یا آن گرایش از بین برداشته شود. زیرا این امر از نگاه علمی هرگز با خصوصیات ملی منافاتی ندارد و حتی با رشد فرهنگ ملی کمک کرده می تواند. ترکیه بهترین گواه این حقیقت تاریخی است که به منظور رشد فرهنگی مردم در حاد ترین دوران مبارزات آزادی بخش ملی خود رسم الخط ترکی به حروف لاتینی یا اروپائی مبدل ساخت.

جائز خواهد بود که منظور توحید همگانی بین کلیه زبانهای ترکی در حروف روسی یا لاتینی رسم الخط ازبکی اصلاحات جزئی و یا تغیرات قسمی طبق اصول فنی وارد آید اما بصورت کل همین اشکال باید در حد امکان غرض جلوگیری از درهم ریختن پیوند کلی حفظ و تقویه گردد.

از نگاه باسواد ساختن توده های وسیع مردم رجال فنی و مسلکی تعلیم و تربیه خوبتر می فهمند و بهتر می دانند که به صفت یکی از عوامل مؤثر، رسم الخط کنونی ساده تر و سهل تر از همه طرق دیگر می باشد. نگارنده مقاله حتی ادعاء کرده می تواند که بر مبنای تدریس فنی و آموزش مسلکی این حروف یک شخص بی سواد در ظرف بیست ساعت درسی به مرحله خواندن رسیده می تواند. من شخصاً که اکنون میخواهم با زبان ازبکی آشنا شوم از طریق رسم الخط جاری بدون کمک استاد با آسانی پیش میروم. اگر در نظر باشد که همه اقوام ساکن در جمهوری ازبکستان با استفاده از توحید رسم الخط هم آهنگی ذات البینی خود را حفظ نموده و در آموختن زبان دولتی ازبک حساس ناراحتی نه کرده و از رسم الخط معمول و آشنا در زمینه استفاده مؤثر به عمل آورده، این همه و همه در بقای رسم الخط جاری تامین خواهد شد. در غیر آن زبان ازبکی به حالت تجرید

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشانیده شده و تعمیم آن مشکلات گوناگونی در بر خواهد داشت.

دوستانیکه بنا بر پیوند تاریخی مرجح می دانند تا رسم الخط موجود ازبکی به رسم الخط سابق عربی مبدل گردد باید پیش از همه این مسئله را حل کرد که اولاً مواریث گذشته فرهنگ ازبکی در هر دو رسم الخط از نگاه کیفیت و کمیت با هم مقایسه نموده و به بینند که کدام یکی از آنها ثقل بیشتر دارد. دوم اینکه آیا مراجعه به خط عربی اگر از ذهنیت ملی سرچشمه می گیرد پس تسلط فرهنگ عربی در برابر قومیت ازبکی همان نسبتی دارد که درین اواخر فرهنگ عربی داشت. اما اگر از ذهنیت مذهبی نشئت می کند در آنصورت باید دانست که ارزشهای ملی همیشه بر پایه موازین ملی محاسبه می شود نه مذهبی. روی همین دلیل کشورهائیکه دین، مذهب، و حتی زبان مشترک دارند، حدود ملی خود را از همدیگر جدا می دانند.

ضمن تبارز احساسات آزادی بخش ملی گاهی تمایلاتی به میان می آید که تمام پدیده ها و نهادهای زندگی اجتماعی و انفرادی به عقب گردانیده شود. چنین تصورات از ما می طلبد تا نیازهای زندگی با وسایل و لوازم موزیم آثار عتیقه آراسته ساخت. درینصورت همان جبر پیشرفت تاریخ از نظر انداخته می شود که به عملکرد خود ادامه میدهد و نمی گذارد که این گونه تمایلات ذهنی به واقعیت عینی به پیوندد. ما خواهیم مرد ولی به مرحلهٔ طفولیت نمی توان برگشت. زیرا در چنین حالت ما باید از آبادیها به مغاره ها و از وسائل مدنیت به دوران بدویت بر گردیم. اندیشه ای است شاعرانه ولی بدبختانه یا خوشبختانه تحقق نمی یابد.

فرض می کنیم در بین اکثریت دانشمندان موافقه به عمل آمد که رسم الخط عربی بنا بر دلائل موجه یا ناموجه برای زبان ازبکی مفید و سودمند خواهد بود. خود رسم الخط عربی که بدون "زبر ــَـ، زیر ــِـ، و پیش ــُـ" بکلی افادهٔ آوازها نمی رساند، بدون شک فاقد بهترین خصوصیات لسانی است. هر کلمه که به این رسم الخط نوشته می شود بدون آنکه از استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شنیده شود، تلفظ آن از روی حروف استنباط شده نمی تواند. این نقیصه ای است جبران ناپذیر بطور مثال لغات "علم"، "الم"، "ظلم"، "قلم"، "فلم" و امثال آن هر کدام در خور چندین گونه تلفظ است که اینگونه التباس هرگز در حروف موجود ازبکي به میان نمی آید. مشکل دیگر که سر از نو در زبان ازبکی به خط عربی باعث اختلال همگانی خواهد شد اینست که مردم باید آوازهای "همزه"، "ع"، "ت"، "ط"، "ح"، "هـ"، "ث، س، ص"، "ذ، ز، ض، ظ" در لغات از هم بشناسند و کلماتیکه طی زمانهای در زبان ازبکی منحل شده دوباره به نفع زبان عربی و زیان لسان ازبکی از نگاه اصوات و هم از نگاه اشکال احیاء نمایند. نمی دانم این کار برای فرهنگ ازبکی چه سودی در بر خواهد داشت. چنین تلاش به آن می ماند تا عربهائیکه در طول قرنها میان ازبکها به تحلیل رفته اکنون آنها را باعبا و قبای دیرینه خویش می خواهیم به صفت اعراب زنده نمائیم. ثمر همچو کوشش از مصرف آن خیلی کمتر خواهد بود.

آن وجههٔ علمی که زبان ازبکی بر مبنای رسم الخط جاری در خارج از مرزهای ازبکستان برای خود کسب کرده است در هنگام رسم الخط عربی به کلی از دست خواهد داد. زیرا تاوقتیکه نویسندگان ازبک به تفاوت بین "منذور"، "منزور"، "منضور"، "منظور" و یا "عبس"، "ابث"، "ابس"، "عبص"، "ابص"، "عبث" پی می برند و صحیح او غلط می شناسند، دچار اشتباهات خنده آور املائی خواهد بود و این امر در نظر کسانیکه با کلمات عربی آشنائی دارند دلیل سطح پائین علمی آنها پنداشته خواهد شد.

ممکن است باکشیدن چنین مسایل به ساحه سیاسی دشواریهای حل ناشدنی بار آورد. زیرا این گونه موضوعات که جنبه های فنی و مسلکی دارد باید همیشه از جریانات سیاسی دور نگاه داشته شود. همه مسایل زندگی نباید طوری تلقی شد که از طریق مراجعه به آراء عمومی به حل درست می انجامد. بسیاری از مسایل است مانند تعلیم اجباری که هیچگاه در میدان

(c) ketabton.com: The Digital Library



رایگیری مطرح نمی گردد. تنها اشخاص خبیر و خیرخواه که منافع مردم بر مبنای موازین علمی و منطقی ارزیابی کرده می توانند حق دارند راههای درست به مقامات ذی صلاح نشان دهند.

از اظهارات من نباید چنین نتیجه گرفت که زبان ازبکی بکلی به رسم الخط عربی نوشته نه گردد. من معتقدم که رجال علمی و مذهبی که به آثار پیشینگان آشنائی بیشتر داشته و در فرهنگ عربی اندوخته های با ارزشی برای ملت ازبک سراغ دارند به گونه محققان و پژوهشگران حقوق خاصی داشته باشند. آنها می توانند قطع پیوند فرهنگی که از طریق رسم الخط جاری بوجود آمده برای کسانیکه درین امور علاقه دارند دوباره وصل نمایند. به این ترتیب تمام مزیت های عربی و غربی به گونه ئی در لسان ازبکی حفظ خواهد شد.

با وجود همه نظریات ضد و نقیض بعید نیست که نظر به نیاز توحید همگانی و هم آهنگی تخنیکی در ساحات ملی و بین المللی سائر زبانهای جهان به شمول عربی در طول زمان رسم الخط لاتینی یا اروپائی برای خود دیر یا زود انتخاب خواهد کرد. مثال آشکار این عملیه همین اکنون در پیامهای تیلیگراف و تیلیکس در هر جا به مشاهده می رسد.

حافظ وظیفه تو دعا گفتن است و بس
در بند آن مباش که نشنید یا شنید

تاشکند – ۲/ ۲/ ۱۹۹۲

په دا سبا چي مي دا لنډکی مقاله حبیب الله کرامتوف ته وسپارله وې لوستله، وې خندله او راته وئې ویله: "این مقاله اگر نشر شود به گونه بمبی اشتعال انگیز خواهد شد". ما ورته وویله چي زه خو ستاسي د ټولني په سیاسي شخړو نه پوهېږم. خو دا مي خپله دنده وګڼله چي له علمي دریځه پر دغه توده موضوع روښنايي واچوم، ځکه: "اگر بینم که نابیناه و چاه است – و گر خاموش بنشینم گناه است".

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیر ته به خپلي نوري قصې پسي راواخلو. یوه ورځ د هوټل منتظم په ما پسي یو څوک راولېږله. زه چي ورغلم نو پر میز ئې زوړ کتاب پروت وو. دی نه پوهېدی چي دا به څرنګه کتاب وي او څونه ارزښت به لري. په وطندارانو کي یو چا زه ورښوولی وم چي هغه په دې کتابو پوهېږي. کتاب چي مي سره راواړاوه نو ازبکي ژبه وه چي په عربي یا فارسي رسم الخط باندي لیکلې سوې وه. ما لوستلای سوای خو ازبکانو ته دغه د اویا کالو زوړ کتاب بیخي نا آشنا ښکارېدی. دا کتاب د احادیثو هغه اثر وو چي د صلوة مسعودي په نامه یادېږي. دوی ته داسي په لاس ورغلی وو چي په یوه دېواله کي د ننه د ساتني او پټوني له پاره هلته ښخ سوی وو. له دې څخه څرګندېده چي دغه راز کتابونه د کمونیزم له راتلو سره خلګو په دېوالو او دربندانو کي له سرکاري څارندویانو څخه هغه زمانه پټ ښخوله. کتاب دښمني هر چیري هر وخت د هغو جاهلانو کار ګڼل کېږي چي له دوی سره د استدلال په میدان کي دونه کافي منطق نه وي چي په کتاب باندي منسوخ کړي. د ثور د پاچاګښتۍ په دوهم کال کي چي زه د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د نشراتو په ریاست کي کار ته وټاکل سوم نو په لومړۍ ورځ مي هلته په یوه کوټه کي پرله ګډوډ خره سوي کتابونه ولیدله چي د اوړېدو له قراره انقلابیانو د ملي بانک له کتابخانې څخه په خورا بېرحمي دلته راچلولي وه چي بیا ئې وروسته د سوځولو په جزا محکوم کړي. د هغو په جمله کي مي د سید قط تفسیر ولیدی چي ما ئې د ساتني له پاره په دې دلیل زیار وایستی چي که یو وخت له یو افغاني عالمه سره دا هیله وي چي د سید قط د اخوانیت آیډیالوجي په علمي استدلال تردید کړي نو هغه دې ته ضرورت لري چي یو ځل د ده نظریات د ده په تفسیر کي وګوري او ټکي په ټکي ئې په مقابل کي خپل علمي دلائل اقامه کړي.

تر دې بېځایه لنډو او اوږدو چي راتېر سو نو څه سر مو پرله ګرزوم د سترګو د اپرېشن له پاره بالآخره د سترګو د روغتون د ناروغانو په لیست کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شامل سوم. روغتون یا شفاخانه نیمه بندیخانه غوندي ګڼله کېدای سي. چي په هره کوټه کي سړی له هر چا سره واچوي نو هغه دې ته اړېږي چي د ځانځانۍ له احساسه راوزي او له نورو ناروغانو سره د یارانې په روحیه ګوزاره کوي. زما په ژوند کي چي دا لومړی پلا وه نو په دې روغتون کي رامعلومه سوه چي باید د اړتیا یو څه لوازم مي هم له ځان سره راوړي وای، لکه چای، بوره، د تشناب کاغذ، صابون او داسي نور. زیاتره به مي ځان ته ویله چي که "بیا ودېدم، اینکۍ مي ښه زده". د سترګو په دې شفاخانه کي چي په سلهاوو کسانو کار کاوه له پاس ډاکټرانو څخه رانیولې بیا تر نرسانو او خدمتګارانو پوري ټولي ښځي او نجوني وې چي په سوسیالیستي ازبکستان کي په بېلابېلو سویو روزلي سوي دي. دلته ناروغان کوړ، کوړي دې او ها خوا ته تلله راتلله او ما چي دوی ته کتله نو په سرسري توګه دا رامعلومېدله چي د سترګو ناجوړي یا کمزوري په طبیعي حساب د زاړه سن یوه ناروغي ده ځکه په سل کي پنځه نیوي کسان لیدل کېدله چي عمر خوړلي خلګ وه. شفاخانې ته چي څوک د بستر کېدو له پاره ورسي، بس له هغه ګړي څخه ځان سمدم مریض احساسوي چي د شفاخانې یا تنګ یا لوی بې موډه کالي په واغوندي. دوا ئې د سیسټم په شان د ټولو له پاره لکه خواړه غوندي متحدالماله وه. د یوې نرسي چي وار وي ځیني ګولې ما ته راکړي، خو یوه بله یوه ئې بیا هیڅ هم نه راکوي. زه نه پوهېږم چي دا به د ډاکټر هدایت وي او که به د دوی تر منځ زما په نسبت یو سیکالوجیکي توپیر. زه اوس سمدم ځان په معلولینو یا معیوبینو کي بولم ځکه د لومړی ورځي حال رابا ندي دربدلی او د سبا په هیله شپې تېروم. کومي کوټې ته چي ئې زه وار د واره راوستم نو هلته زما په شمول څلور ناجوړیان سوه. تر دې پسې ئې هلته څلور نفره روسان هم مېشته کړه چي نیمه کلیوالي او نیمه ښاري کلتور ئې درلودی. د طبقې په لحاظ کارګران وه. ډېر یارباشه خلګ وه او د انساني تهذیب په سپېڅلې روحیه ئې ژوند تېراوه. یوه یا بله ورځ به یو یا بل مریض هم رخصتېدی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټې له یارانو سره به ئې خدای په اماني کوله. نوی چي به بیا راغی تر یو څه ګړي وروسته به مو خوله ورسره پرې سوه او په مجلس به ورسره کښېنوتو. یو ډنګر غوندي خوشنمایه سپین ږیری چي هلته نوی راغی خپل وروستی نوم ئې "کلیمنت" وښووی او له دې نامه سره روسان په دې وپوهېدله چي دا یهود دئ او په دې بیان ئې له هغه سره خپلي تو کمیزه فاصله څرګندوله.

زه ئې ورو ورو عملیاتو ته چمتو کولم. راته وې ویله چي ښی ستر ګه دي تر کیڼي ستر ګي کمزورې ده. واردواره باید ښی ستر ګه اپرېشن سي او بیا به شپږ میاشتي وروسته د دې بلي عملیات تر سره کړو. ما ورته وویل چي دا خو ستاسي کار دئ او په خپل کار ښه پوهېږی. په دې ورځ ئې لیکلی سند هم راغخه واخیست چي زه د عملیاتو سره موافقه لرم. د سند تقریر ئې یو څو کرښي په خپله ژبه کښلی وو او ما البته د ستر ګو د جوړېدو په هیله په پټو ستر ګو ور امضاء کړ. دوی د ورځي تقریباً پنځوس د ستر ګو عملیاته کوله. هغه کسان زما په شمول چي په سبا کي تر عملیاتو لاندي راتله د نیلو په رنګ ئې د ورځي پر سر د ناټکي کلون په څېر او یا لکه د خیرات د سخو ندر کي په شان نښاني کوله.

بیا نو یوه ښایسته ازبکه نجلۍ راغله چي غچي ئې هم ورسره را اخیستې وه. د دې له پاره چي ښی ستر ګه مي د سباني اپرېشن ته تیاره سي نو ما ته ئې وویله چي باڼوګان در غچي کوم. د غچي کولو په وخت کي ئې د زړه سوي په مهربانه لهجه وویله چي ستا خورا ښکلي ښایسته باڼوګان دي. ما په جواب کي ورغبر ګه کړه چي غچي دي نه پوهېږي چي کوم ښکلي دي او کوم ناښکلي. خو هغه انسان چي په ښکلا ئې هم پوهېږي دې ته اړېږي چي په ناپوه غچي ئې په بدرنګ ولړي. چي ځان ته مي په هینداره کي وکتل نو عجبه ناشولټه شی راغخه جوړ سوی وو. په دا سبا ئې سهار د اپرېشن له پاره په کڅوړه کي وپېچلم او پر اربه داره کټ ئې د عملیاتو خوني ته ننه ایستم. تقریباً په دوه ساعته کي ډاکټر له نرسانو سره زما د ستر ګي په عملیاتو لګیا وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په آخر کي ئې راته وویله چي اپرېشن په بریالیتوب سر ته ورسېدی. پټۍ ئې پر سترګه راوتړله او تر خپلي کوټې ئې راورسولم.

په کوټه کي مو یو خورا خوشخویه، په توره غوښه پټ، په عمر زاړی روسی هم اوسي چي هر کله لنډي لنډي غزلي له ځانه ځخه وایي. کله چي په خپله مرسل بادونه ولي او یا د نورو دا اوري نو دی په روسي ژبه ورسره وایي: جنګ ادامه لري. دې ناروغانو ته چي له دباندي ځخه خپلوان راځي هر ګړی پرله پسې دغه خبرونه رارسوي چي غوښي څو چنده ګراني سوې، شیدې اسمان ته وختې، بوره بېخي نه پیدا کېږي، او داسي نور. دوی په ګډه په ها ها سره وخاندي او سرونه وښوروي. یهودي سپین ږیری بیا وایي چي د اپریل پر څورلسمه مي دواتیامه سالګره ده. دلته که زموږ سپین ږیري وای نو ټولو به کرۍ ورځ د ایمان او آخرت سوال کولای خو دا بدبخته ماټریالیسټان یوازي د ژوند خبري کوي او د مهذب کلتور له روحیې سره سم نه په چا غرض لري او نه د چا خوا وربدوي. ژوند که راحت وي او که زحمت وي هغسي ئې تېروي لکه څنګه چي تېر ېږي.

دغه ورځ وه که دا بله چي یو پټوخ ازبک ئې یوه خالي سوي بستر ته راوستی. دی لکه د غلو پنډ مچ ټند ټند به کېدی او دې و ها خواته به ئې خپله غټه کونه ښوروله. په کوټه کي به ئې غماشي لیدلې، هغه به ئې څارلې او د هغو په وژلو پسي ئې خپل پنډ اوربوز لاندي باندي د لټوني له پاره ښوراوه. عجیب خاصیتونه ئې وه. د بل چا خیال ئې چنداني نه ساتی. چي ستا به څراغ نه وو په کار ده به هغه هرومرو لګاوه. چي ته به وتلې دی به کوټې ته راتلی او چي ته به راتلې دی به بیا له هغې ځخه وتی. پرېمانه ګوزونه ئې ویشتله. که د چا بد راتله او که ئې ښه راتله خو ده به د کوټې راډیو چالانه ساتله او اوزبکي خندنونه به ئې د پروګرام تر پایه په آخره درجه کي ږغوله. د ده له اریستوکراسۍ سره چا مخالفت نه سوای کولای. که به د ده خوښه وه نو کلکین باید خلاص وي او که به ئې بیا نه وه خوښه نو باید ټینګ تړلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوټې صوبداري په ده اړه درلوده. يو بل اشرافي ازبک چي د کومي مؤسسې مشر وو مخامخ به ئې له روسي ناروغانو سره په بده روسي خورا دوستانه مجلس کاوه خو هغه چي به دباندي وتلی وو نو پشلا به ئې ما ته د مسلمانۍ د اشتراک په وجه داسي ښکاره کوله چي له روسانو څخه ئې ډېر بد راځي. دا ئې هم د ټولنيز ژوند له حقائقو څخه يو حقيقت چي په خوله د چا دوست وي او په زړه کي د هغه دښمن. د ماښام پر مهال باندي به دا ناجوړيان له خپلو کوټو څخه دهلېزو ته سره راووتله او خپل تر منځ به له يوې او بلي خوا ږغېدله. موږ ته نژدې يو څو اناګاني هم بستر وې. يوه شپه چي دهلېز ته سره راوتلي وې نو مرکه ئې ما اورېدله. په دوی کي يوه چي په لوړ ږغ ئې د تقرير ژبه خورا روانه وه دا نورو ته به ئې د اللهم صل، اللهم ربنا او نوري د مسلمانۍ دوعاوي په داسي لهجه ويلې چي ګويا دا ښه په پوهېږي او دا نوري شنې اميانې دي. پر هغو باندي به ئې ځان ښکاره کاوه او چا له دې سره ژبه نه سوای کولای. ما ته ئې هغه زړه خاطره را په ياد کړه چي زموږ په کوڅه کي هم يو وخت دوې ښځې په مذهبي دوعاوو کي په سيالي سره لوېدلي وې. يوې ها بلي ته ويله چي ته خو اللهم صل غلطه وايې. تش دوې کلمې دي زده کړې دي. هغې بلي په جواب کي ورغبرګه کړه چي دا ستا په شان اوږده اللهم صل خو "دا رحم د مور درواغ دي".

له اپرېشنه سره زما د سترګي بينايي وځلېده او دباندي ورشو تر دمخه څو چنده روښانه راته وايسېده. خو د چپه سترګي سره چي ئې په ليد کي برابري نه درلوده نو زه به په تلو، راتلو کي ټپرېدم چي اوس د کومي سترګي د ليدني په پيروي ګامونه واخلم.

دا نو د ١٩٩٢ د مارچ مياشت ده. پر لسمه نېټه ئې د سترګي عمليات راوکړه او پر اووه لسمه نېټه له شفاخانې څخه راووتلم. دباندي هوا سړه وه. سترګه مي يخ ووهله او يا د کندهار په اصطلاح ګزک سوه. پر ځليرويشتمه نېټه بيا د دوهم ځل له پاره په هغه شفاخانه کي بستر سوم. تر دمخه ښه سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاکن پر یوه مخ جوړه نه سوه. په هر حال د لیدني له پاره په راضي وم. دې بیان ته به نو پر همدې ځای خاتمه ورکړو ځکه ژوند ټوله همداسي دئ چي یوه خوا ئې سمه سي بیا ئې بله خوا له ښې ووزي. څو ورځي وروسته چي بیرته هوټل ته راغلم نو دلته فضا داسي معلومېده چي د ازبکستان اکاډیمي نن یا سبا افغاني مېلمنو ته جواب ورکوي چي اضافه پر کور به غمېدلي دي. ما ته ئې د فبرورۍ د میاشتي راهیسي یو غاز هم نه دئ راکړی. مېلمه پاله وایي چي د مسکو امر نور پر ازبکستان نه چلېږي.

هغه بله پلا چي زه یو څو هفتې په تاجکستان کي پاته سوم نو د داسي کسانو پوښتنه مي کوله چي پخوا زمانه له افغانستانه څخه د شوروي خاوري ته را اوښتي وي او دلته ئې د خپل ژوند بنا جوړه کړې وي. دوه درې کسه مي داسي څوک ولیدله چي د کارگرو له طبقې څخه وه او د بدخشان له نژدې سیمي څخه څو کاله پخوا دلته راغلي وه. ښه ژوند ئې درلودی او د پوره خوښۍ احساس ئې کاوه. همدا شان مي هلته یو پښتون وموندی چي عبدالعزیز نومېدی او په یوه کلي کي ئې ښه لوی کور له لوازمو سره درلودی. دی په ځواني کي را اوښتی وو. په خټه توخی وو او د زابل له علاقې څخه راغلی وو. بل پښتون مي هم ولیدی چي کور ئې په دوشنبه کي وو او د یوې پروژې جمداري ئې کوله. دی د هلمند له ساکزو څخه وو، چي په وړکینه د شپانه په توگه تر سرحد راتېر سوی وو او دلته ئې د بسیا ژوند سربښته له یوې تاتاري ماینې سره جوړه کړې وه. په کور کي ئې ټوله وسایل درلوده چي په افغانستان کي به ئې پلار و نیکه هم په خوب نه وه لیدلي. د دې دواړو بیان ما په هغه لیکنه کي کښلی دئ چي ها بله پلا مي په دې نامه ولیکله: "څه چي وینم هغه وایم". د ازبکستان په دې لنډ مهال کي مي یوه ورځ له یوه ازبکه څخه تش دونه واورېدله چي د مولانا مهي په نامه یو وخت کوم څوک له کندهاره دې هیواد ته د استوگني په توگه راغلی دئ او د هغه عکس د فرغانې په کوم اخبار کي هم چاپ سوی دئ. نور نو والله اعلم بالصواب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو زما په شمول د اکاډیمۍ افغاني کارمندان دې ته انتظار باسي چي کله به د ازبکستان د اکاډیمۍ واکداران یوه ډله سپاهیان راواستوي او په زور به مو له هوټله څخه وباسي. د مېلمه پالي سره دې موافقې ته ورسېدو چي ټوله په اورګاډي کي د تاجکستان خوا ته ځو. پر ته له ما دا نورو غوښته چي د "ترمز" له لاري هیواد ته ستانه سي. ځکه واردواره هم له دې لاري څخه راغلي وه او تقریباً د درې میاشتني ستاژ دوره ئې هم دلته سر ته رسولې وه. خو زما چي د لسو میاشتو له ټاکلي پروګرام څخه پوره پنځه میاشتي لا پاته وې نو مي ژر زړه نه غوښتی چي دونه وختي د خپل کور تر دوړخه پوري ځان ورسوم. له بنه مرغه زما پالونکي ساتندوی زوم ډاکټر شېرحسن دا مهال په تاجکستان کي د اوسېدني له پاره یو کور سربښته کړی وو او ما ته ئې پخوا لا ویلي وه چي هلته به له ده سره یو څه زمانه واوسم. ځکه نو ما خپل سفر د دوشنبې تر ښاره پوري وټاکی او پاسپورټ مي مېلمه پالي ته وسپاره چي د تاجکستان وېزه ما ته راواخلي.

ستاسي به نو نتیجې ته تلوار وي خو زه وایم چي اوګره په تلوار نه سرېږي او تر څو پوري چي ژوند ادامه لري نو سرې و تودې او یا ښې و بدي ئې هم نه تمامېږي. یوازي مرګ د هر وګړي د حوادثو داستان ته خاتمه ورکولای سي.

ورځي او شپې مو له پرېشانیو څخه ډکي وې او هیلي مو نامعلومي آیندې په تاریکه کي خوب زنګولې. د اپریل میاشت په نن او سبا کي تېرېدله خو دوې ورځي د مخه راته وویل سوه چي د رواني میاشتي پر پنځلسمه نېټه به تاسي له ازبکستان څخه رخصت سی. دا ورځ هم راورسېده او سهار د تاشکند له ټېسنه څخه مخ پر "ترمز" او تاجکستان باندي ګاډی چالانه سوه. وطنداران یو ځای سره کښېنستو او په چورت وهلو یا ږغېدلو مو د سفر شېبې تېرولې.

ګاډی چټکه روانه وه او هر څوک ئې تر خپله سرنوشته پوري په بېړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځغلول، ما چي ځو ورځي پخوا د اجي بابا يا جهان آفرين د زمولتيا په باب (د تاشکند آزموينه) تياره کړې وه، هغه مي هم د ځان او هم د انډيوالانو د خندولو او طبيعت صافولو له پاره ورړغوله.

"ترمز" ته چي راورسېدو نو تر خدای په اماني وروسته دوی د هيواد پر خوا ولاړه او زه د دوشنبې د ښار پر لوري په ګاډۍ کي پاته سوم، بيا مي نو له دوی څخه يو لا نه دئ ليدلی چي څه ورپېښه سوه او تر کومه ځايه ورسېده، خو زه د تاجکستان د سياسي انډوخر د اړودوړ په وخت کي په خوړمنه سترګه د هغي ليکني لوستلو ته په ډېر شوق چمتو سوم، چي د ډاکټر شېرحسن د همت په برکت زما لاس ته راغله او د نونسمي پېړۍ په پای کي د هغې مؤلف هانري والټر بيليو (د افغانستان د توکم پېژندني په باب يوه پلټنه) بللې وه.

په هيواد کي د پېښو له جريانه څخه زه دلته وپوهېدم چي نور نو وطن ته نه سم ستنېدلای، نور کسان چي هوښياران وه وختي ئې لا د بيرته تلو دوطرفه هوايي ټکټان په پنځه شپږ زره روبله وپلورل او پر ځای استفاده ئې ځني وکړه، خو زه چي ساده سړی وم او د ګټي په چل نه پوهېدم نو هغه تش راپاته کاغذي ټکټ لا اوس دا دئ له ما سره ئې ملګري لا نه ده پرې ايښې او تقريباً تر ديرلس کاله وروسته دلته د ډنمارک د هرتزهال په سمندري ښارګوټي کي ژړ –ژړ مخامخ راته ګوري او د حال په ژبه راته وايي چي:

"هرررر ښنګه مي خطا ايستې!"

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ نور چاپ سوي کتابونه

١. احمدشاهي کندهار – لومړی ټوک/استاد محمد معصوم هوتک
٢. احمدشاهي کندهار – دوهم ټوک/ استاد محمد معصوم هوتک
٣. د کوږو سرنوشت د علمي پلټني په رڼا کي/ استاد نومیالی
۴. د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي/ استاد نومیالی
۵. انکار – شعري مجموعه/ عبدالقدیم پتیال
٦. شل مقالې – نهمه برخه/ علامه حبیبي
٧. شل مقالې – لسمه برخه/ علامه حبیبي
٨. شل مقالې – یوولسمه برخه/ علامه حبیبي
٩. شل مقالې – دوولسمه برخه/ علامه حبیبي
١٠. شل مقالې – دیرلسمه برخه/ علامه حبیبي
١١. د کندهار دودونه/ عبدالخالق واسعي
١٢. اوسني لیکوال/ استاد عبدالرؤف بېنوا
١٣. پردېس بېنوا / عبدالقدیم پتیال
١۴. کندهاري ورونه/ استاد محمد معصوم هوتک
١۵. په کندهار کي د کورنۍ جوړښت/ ظاهر افق
١٦. د لومړي افغان – انګلیس جنګ مقدمه/ د نسیم سلیمي ترجمه
١٧. د پلار لیکونه لور ته/ د نسیم سلیمي ترجمه
١٨. پښتو متلونه/ د نسیم سلیمي تالیف
١٩. په افغانستان کي د یوه بندي خاطرات/ د نسیم سلیمي ترجمه
٢٠. پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه/ استاد محمد معصوم هوتک

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱. د کندهار ښار/ عبدالهادي ریشا

۲۲. ځوان کلونه ناځوان وختونه – شعري مجموعه/ سعید لودین

۲۳. د میوند فاتح/ د عبدالنافع ثنا ترجمه

۲۴. پولیټیکل ساینس ته یوه کتنه/ د ډاکټر محمدصدیق ظهیر ترجمه

۲۵. نبوي کورنۍ/ مولوي عبدالهادي حماد

۲۶. نبوي معجزې/ مولوي عبدالهادي حماد

۲۷. اراکوزیا/ استاد عبدالقدوس نجیب

۲۸. افغانان نه ژاړي/ حاجي محمد رزمي

۲۹. افغان شاغاسیان – انګلیسي/ استاد محمد معصوم هوتک

۳۰. کشف شاهنامه قبل از دورهٔ مغل/ علامه حبیبي

۳۱. ملي هینداره/ استاد محمد ګل نوري

۳۲. له کندهاره تر اټکه/ استاد محمد معصوم هوتک

۳۳. د بېنوا پرېشانه افکار/ استاد بېنوا

۳۴. نو مورکي مؤرخین/ علامه حبیبي

۳۵. د کندهار مشاهیر/ محمد ولي زلمی

۳۶. پردېس عربي قاموس/ د اختر محمد جهید ترجمه

۳۷. پښتو ستا مینې بوداپیست ته بوتلم/ استاد محمد معصوم هوتک

۳۸. د پښتو ادب لنډ تاریخ/ علامه حبیبي

۳۹. ستاینې او وېرنې/ اروا ښاد عبدالمجید بابی

۴۰. د پښتو ژبې ننۍ مسألې/ محمد هارون خپل

۴۱. او داسې نور ...

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library